زېړے د ناویاتہ سباوون خوھر سحر راوړي
سترګې مې غړېږي نۀ چې سترګہ د سبا خيژي




# ناویاتہ سباوون

رفیق یوسفزے






شروع کووم پۀ نامۀ دَ خدائ ، چې ډېر بخښونکے او مهربانه دے

# ناویاته سباوون

دا خو مُعجزه ده ستا دَ مړو سترګو
مرګ له دَ ژوندو لکه چې مړۀ راځي

دې نۀ لوئې غفلت به لا کېدے شي نور
خوب راله دَ نمر پۀ راخاتۀ راځي

رفیق یوسفزے

# دَ کتاب ټول حقونه خوندي دي


| | |
|---|---|
| دَ کتاب نوم | ناوياته سباوون |
| دَ شاعر نوم | رفيق يوسفزے |
| دَ اُوسېدو ځائے | بره دير |
| تعليم | ايم ايس سي کمپيوټر سائنس |
| | ايم ايس پراجيکټ منيجمنټ ( يو کے ) |
| اي مېل | rafiq.yousafzai@yahoo.com |
| کمپوزنګ | وسيم عباس دربار |
| | 0535652092 |
| | wasimdarbar@gmail.com |
| سر پاڼه | قاضي عمران الله |
| تعداد | ۵۰۰ |
| چاپ | اول ځل |
| چاپ کال | ۲۰۱۸ |
| بېعه | ۲۵۰ |
| پرېس | |
| دَ شاعر نور کتابونه | ۱) تهٔ چې راغلې پسرلے شو (چاپ ۲۰۰۷ء) |
| | ۲) پهٔ اورونو کښې ګُلونه (چاپ ۲۰۰۹ ء) |

# تړون

د خپل محترم استاذ
پروفیسر ډاکټر اباسین یوسفزي پهٔ نوم
چې د پښتو شمله او د ضلع دیر فخر دے

# ناویاته سباوون

رفيق يوسفزے دَ بره دير واړی سيمې کاکۀ کلي اوسيدونکے دے ـاول خودَ تعليم حاصلولو دَپاره لندن ته لاړو هلته نه ئې دَ ابم فل ډګري ترلاسه کړه او بيا ئې پۀ پرنس محمد بن فهد يونېورستۍ دمام سعودي عرب کښې دَ پروفېسر پۀ حېث کار شروع کړو چې تر اوسه پورې پۀ سعودي عرب کښې خپله وظيفه تر سره کوي ـ ناویاته سباوون ئې دَ شاعرۍ دربمه مجموعه ده دَ دې نه وړاندې ئې دَ شاعرۍ دوه مجموعې " تۀ چې راغلې پسرلے شو" او " پۀ اورونو کښې ګلونه" چاپ دي او اوس ئې دواړه مجموعې ښکلي ټائټل سره دوباره چاپ کړې دي ـ

چې کله هم دَ دير ذکر کيږي نو د اباسين يوسفزي نوم ضرور مخې ته راځي ، او بيا دَ رفيق يوسفزي ملګرے هم دے يو نظم ئې " پروفېسر ډاکټر اباسين يوسفزي" عنوان لاندې لېکلے هم دے ـ

دا بـه دَ ١٩٧٠ء خوا او شا ورځې وې چې مونږ دَ لسم امتحان ورکړے ؤ ، وزګار وو نو ملګرو سره درګۍ ته راغلي وو ، پۀ درګۍ کښې ډېرو ټلوالو دَ ټمبر کار کولو ـ کورونه خو ئې ټـل کښې وو خو پۀ درګۍ کښې ئې دېرې پۀ کرايۍ نېولې وې ـ زمونږ دَ ملګرو

مشرانو هم پهٔ درګۍ کښې د ټمبرکار کولواو ټمبر سره سره ئې مشترکه دَ ورو مل هم ؤ او خپل ټرک ئې هم لرلو چې پهٔ کوم کښې به ئې ورۀ اخوا دېخوا لېږل - یوه ورځ ئې دَ تېمرګرې ورۀ اچولي وو نو مونږ درې ملګري هم ورسره د مشرانو پهٔ صلاح سېل ته روان شو ـ.

چې کله ټرک پهٔ تېمرګرې جار کلي کښې خالي شو نو بیا ئې ټرک دَ لرګو راوړلو دپاره دیر ته روان کړو ـ دا دَ هغو ورځو خبره ده چې دیر ته کچه سړک تلےؤ مونږ خود دَ مالکانو مېلمانۀ وو ـ دَ مالک ځوې هم راسره ؤ نوزمونږ ډېراحترام کېدو ـ هر ځائي کښې به هر څۀ ډېر وو هېڅ قسمه فکر نۀ ؤ، خو چې ګندېګارته ورسېدو نو ناوخته شو او شپه مو دَ ګندېګار پهٔ یو هوټل کښې وکړه ـ سحر ناشتې نه ورُستو پته ولګېده چې دَ دیر تګ پاتې شو او مونږ ګندېګار نه راوپس شو . پهٔ لارې ډېرې سوارلۍ وې ولې چې بسونه خو پخوا نۀ وو ـ خلقو پښو ته ځرمنې اچولې وې پیاده روان وو ـ او کۀ بیا بسونه وو هم نو دومره به ډک وو چې کسان به پهٔ یو بل باندې ناست وو ـ ټرک ته ډېر کسان راوختل او ډرائیور ورنه کرایه هم واخسته ـ هغه سېل زما نۀ هېرېږي ـټل ته به د کوټېګرام دیرنه نثار باچا چې شاعر هم دے راتلو دهغۀ پهٔ ټل کښې خپلوي هم وه کله کله به مونږ ورتلو او پهٔ ټول دیر کښې به ګرځېدو ـ او دَ تګ راتګ سلسله تر اوسه پورې روانه ده ـ

رفیق صېب زمونږ دَ ترۀ زامنو نه پهٔ پېښور کښې جائیداد اخستے دے ورسره کلکه یارانه ئې جوړه شوې ده ـ یوه ورځ ما ته دَ ترۀ زوي ټلیفون وکړو چې یو مېلمۀ درسره ملاوېږي ، خېر رفیق صیب کور ته راغے پوهه او زیرک کَس ؤ ټوله شپه مو پهٔ شعر او شاعرۍ واړوله ماته داسې ښکاره شوه چې زما او دَ رفیق صېب شاعرې ډېر یو شان

والے لري ـ یا خو دوئي زمونږ دَ علاقې شاعرانو سره پاتې شوي دي او یا ئې بیا دَ هغوئي کتابونه لوستي دي او یا توارد هم کېدے شي ـ څو ورځې اګاهو روژې کښې رفیق صیب پۀ دوېم ځل بیا راغے ټوله شپه مو یو بل نه شعرونه واؤرېدل پۀ ادب خبرې وشوې او بیا ئې ما ته دَ خپلو دؤو چاپو کتابونو سره نا چاپه کلام راکړو چې زۀ وربانديې یو څو کرښې ولیکم ـ

دَ رفیق صیب پۀ کلام کښې سندرې نظمونه قطعې او دَ شاعرۍ نور صنفونه هم موجود دي خو دَ دوئي پۀ کلام کښې زیاته برخه دَ غزل ده ـ یقینًا چې دوئي هر صنف سره انصاف کړے دے وجه ئې دا ده چې یو خو رفیق صیب تعلیم یافته سړے دے پۀ لندن کښې ئې وخت اړولے دے ، بل ئې دَ ډېرو ښو ښو شاعرانو سره تعلق دے لکه رحمت شاه سائل صیب ، حسېن احمد صادق صیب او همد غسې نور هم ډېر شاعران ملګري لري ـ کۀ هر څو پۀ سعودي عرب کښې اوسي خو دَ پښتو پۀ ادب ئې ژور نظر دے ، ژَوره مطالعه لري او پۀ ښو شاعرانو کښې شمېر دے ـ

دَ مولانا الطاف حُسېن حالي دا فکر دے چې شاعرۍ دپاره زورور تخیل چې ژوره مشاهده او تجربه پکښې شامله وي ضروري دے ـ تخلیق د شعور تابع ګڼي دَ امد پۀ ځائے دَ اوردَ قائل دے باطن نۀ مني خو بیا هم د دوئي پۀ فکر شاعري هغه شاعري پۀ کار ده چې دَ قاري دَ متاثر کولو او دَ متوجۀ کولو طاقت ولري . ساده ، اسانه او پۀ ښکلو ټکو ښائیسته شاعري شاعري ګڼي . شبلي نعماني الطاف حسېن حالي سره اتفاق نۀ کوي دَ کلاسیکیت او دَ جدیدیت دَ دواړو

قائل دے ـ وائي چې شاعري هغه پکار ده چې سړے ئې پۀ لوستو سره خوشحالي بیامومي ـ
پۀ کلاسیکي شاعرۍ کښې هیت ته اهمیت ورکولے کېږي خو اوس پۀ شعر کښې معنٰی ډېره اهمه ده دَ شعر اسلوب تـه نۀ شي لېدلے ـ .همدغسې به اول اهمیت الهام ته ورکول کېدو چې پۀ زړۀ بـه ئې اثـر کولو خو نـن سبا جدیدیت الهـام نـۀ منـي ـ دَ رفیـق صـېب پـۀ کـلام کښې عشقیه مضامین ډېر دي۔ محمد حُسېن ازاد چې دَ اردو ژبې لوئې لیکوال دے وېنا ده چې دَ حُسن و عشق خبرو نه مې نور زړونـه مـاړۀ شوي دي ـ خو وئیـل کیـږي چې دغـه تنقیـدي فکـر دَ سـماجي تعمیر ونو ابجنډه ده ـ
ډاکټر محمد علي صدیقي وېنا ده چې دَ مولانا روم مطالعې نـه دا خبره څرګندیږي چې کوم ټولي دَ محبت نـه خالي شي نو دَ هغـوئې تخلیقي او تعمیـري قـوت ختـم شـي ـډېر ناقـادان دا هم وائي چې جدت که هر څو روایت نه پېدا دے خو بیا هم دَ روایت نفي کـوي ـ خـو بیـا هـم نـازک خیـالي معنٰـی افرېنـي ښـکلي قـافیې او ښـکلي ردیفونه دَ شعر ښائیست دے او شاعري دَ داخـل او دَ خـارج امتـزاج دے ـ
شاعر دَ خیال پۀ زور هر بې حسه څیز دَ ژونـدي کـولـو طاقت لـري ـ هر بې حسه څیز دَ شعر پـۀ ژبـه خبرې کـولے شي . دَ شـاعر پـۀ بـاطني دُنیا کښې هر څیز ساه اخلي . خو دَ دې مطلب هغه زَړه نظریه animism نۀ ده چې هر یو څیز روح لري ـ
دَ رفیـق شـاعري هـم دَ قـاري دَ متـاثر کـولـو صـلاحیت لـري دا خبـره صحیح ده چې رفیق دَ عشق او دَ محبت شـاعر دے خـو شـاعر خپـل

چاپېر چل نه سترګې نۀ شي پټولے هغه خپلې معاشرې ته ګوري او بیا ترې مضامین راټولوي او مونږ ته ئې راکوي ـ وئېل کیږي چې شاعر دَ زمانې نقل کوي ( نقل ښۀ وي او که بد وي ښۀ لګي ) هر شاعر دَ وخت ترجمان دے پۀ څه نا څۀ توګه هغه دَ خپل وخت خبره کوي ـ دَ رحمان بابا غوندې صوفي شاعر هم خپل چاپېر چل نه ځان نۀ دے ژغورلے ـ دَ دُنیا خبرې ئې کړي دي ـ دَ کمال خان او جمال خان واقعه ئې لیکلې ده دَ اورنګ زېب حال ئې لیکلے دے خپل حال ئې بیان کړے دے ـ

رفیق دَ یو ښۀ شاعر پۀ توګه دَ شعر پۀ فن پوهیږي لکه دلته هغه دَ ټکو پۀ زور ښکلے تصویر جوړولے شي دَ یو مصور پۀ شان مونږ سره دَ تصویرونو پۀ ژبه داسې خبرې کوي چې ـ

ے

ژبه مې خاموشه خوزېدله نۀ

اوښکې مې راتوئې شوې دَ رُخصت سره

ے

هاغه لوپټه اوس هلته نۀ وي موده وشوه

چې وخت به دَ دیدن شو پۀ بلې به خورېده

ے

ستا تلۀ عجیبه غم ؤ هېڅ پۀ چل نۀ پوهېدم

ما ډېره پټوله خو سلګۍ به خورېده

دلته رفیق صیب دَ جانان دَ یوې بلې ګیلې جواب دَ دوئې کتاب جانان ته پۀ ډېر منفرداو پۀ خاموشه ژبه پۀ داسې ښکلي انداز کښې ورکوي چې سړے ورته حېران پاتې شي ـ

ﮯ

تــا وې زمــا تصــوير دې ســوے جــوړې
مــا درتــه ببرتــه كــړو كتــاب پــهٔ خنــدا

دوئې د خپلې شاعرۍ د ښائيست وجه خپل جانان بولي دَ ښكلي جانان د ښكلي ذكر پهٔ وجه د دوئې شاعري خوږه ده ـ

ﮯ

دَ رفيــق شــعرونه هســې خــوا رهٔ نــهٔ دي
د صــفت خبــرې ډېــرې دي جانــان كښــې

رفيق ستر كو سره سره بانه هم پهٔ كنايه كښې څه پهٔ ښكلي شان سره يادوي او غشو سره تشبيه وركوي ـ زوړ خيال ته ئې نوے رنګ وركړے دے ـ

ﮯ

ســتر كو ئــې رفيقــه ژوبــل ژوبــل كــړم
مــا بانــدې چــاپېره وربــدهٔ غشــې

يو څو نور عشقيه شعرونه ئې هم د لبدو دي ـ

ﮯ

پــام كــوه د زړهٔ نــهٔ مــې بهــر نــهٔ شــې
يــه د جانــان غمــه لېــونے بــه شــم

ﮯ

چې د رقيب سره مې خوا كښې لاس نيولے واؤړې
دَ دې نــه ښــه ده چې پــهٔ مــا د خــاؤرو ځلے واؤړې

ﮯ

خونــد بــه مــو رفيقــه د ژونــدونؤ ډېــر
كلــه بــه زهٔ تلــم كلــه هغــه راتلــه

رفیق پوخ مسلمان دے دَ دوئې پۀ کلام کښې هېڅ داسې شعر نۀ ښکاري چې اسلام سره متصادم وي یا د کلچر نفي کوي ولې چې زمونږ کلچر هم د اسلام تابع دے ۔

ے

څومره اضطراب وي د مېخوار پۀ مخ
وي د زاهدانو تل قرار پۀ مخ

ے

ورو ورو وَده وکړه منکرینو پۀ دنیا کښې
ورو ورو ګېر چاپېره مسلمان ورژېدۀ

ے

تۀ چې خدائ نۀ یادوې سکون به بیا نۀ مومې
خفه د کوره سحر ، سترے د کاره به ځې

ے

خدایه ستا مهرباني ده چې زۀ شته یم
که دَ چا دَ وسه وے نو زۀ به نۀ ووم

ے

یو خوا دَ الله پۀ ذات یقین لرم
بل خوا پېغمبر زما قرآن زما

رفیق پښتون دے پۀ پښتنو مئین دے او د نن پۀ حالاتو ئې ژور نظر دے ځکه خو وائي چې ۔

ے

اغیار دې خپل ځان له زور نۀ ورکوي
ممکنه نۀ ده چې پښتون ختم شي

که دې زرې لکه اوړۀ کړمه زۀ
پښتون یم نور څۀ خو دې نۀ کړمه زۀ

ځنې مضامین پۀ شعر کښې ځایولے شي خو ځنې مضامین داسې هم وي چې محسوسیږي چې پخپله شعر ته راغلي وي داسې شعر ته امد هم وئیلے شي -

ے

ستا کۀ دا خیال وي چې قلم قلم شوم
کم عقله ځان ته دې تېرۀ کړمه زۀ

ے
یا

د زړګي حال دې راته هېڅ کله پوره ونۀ وې
څۀ چې پکار وو تا پۀ خپله خُلۀ هغه ونۀ وې

نن سبا چې پۀ سوشل میډیا دَ یورپ څۀ ملکونه دَ ازادۍ پۀ نامۀ دَ مسلمانانو دَ جزباتو سره لوبې کوي - رفیق پۀ دې حقله داسې وائي -

ے

چې دَ مذهب یا رسالت کړي توهین
هغه زمونږه ایمانونه چېړي

رفیق دَ یو هیومنسټ یا انسان دوست پۀ شان هر چا سره د مینې ارزومند دے وائي چې -

ے

یو انسان دے زړۀ مې یو شان پرې خوږیږي
کۀ رفیق کۀ مې جانان که مې رقیب دے

رفیق پۀ خپل کلچر مئین دے د پلار نیکۀ پښتو او ننګ ورته یاد دے پښتو نۀ شي هېرولے ځکه خو پۀ منفرد انداز کښې وائي چې -

ے

ما له به چرې بې ننګي رانۀ شي
زوَړند مې کور کښې د بابا تصویر دے

ے مۀ وایه چې لاړه حیا ورکه پښتنو نه شوه
اے دا خو مو پخپله پُښتونخوا نه ده ویستلي

دلته دوئې یو بل حقیقت ته زمونږ پام راګرځوي چې ۔

ے

پۀ ځان دې خپله حرام کړے دے خوب
چې دې د مرګ پۀ خوب اودۀ کړمه زۀ

د ځنې خلقو خویونه نۀ بدلیږي رفیق پۀ دې شعر کښې پۀ استعارتي انداز دَ ګل پۀ رنګه دغه حقیقت پۀ ښکلي مثال سره څرګند کړے دے ۔

ے

خوئ دَ ازغو خو څۀ بدل نۀ شولو
که ئې ګلونو نه جامې جوړې کړې

رفیق دَ امید د جهد مسلسل تلقین کوي پخپله هم **self made** سړے دے او بل ته هم وائي چې ۔

ے

کیږي هر څۀ کیږي خپل منزل ته به هم ورسې
لږ خو ورپسې وکړه لټون غمونه مۀ ژاړه

رفیق یو غریب طالب علم ؤ یقینًا دغه وخت به ئې لیدلے وي پۀ لاندیني شعر کښې ئې زبردست طنز دے ۔

ے

تش ترینه نۀ ځي ارمانونه یوسي
رفیق چې تش جیب پۀ بازار تیریږي

www.pukhto.net

رفیق پۀ سعودي عرب کښې پروفېسر دے مسافردے دَ سفر دَ تجربو نه هغه خلق خبر دي چې پۀ سفر کښې دي خو دَ ځنې لیکوالو پۀ ذریعه مونږ هم د سفر دَ ستونزو نه خبرېږو ، دَ پښتنو یو ښۀ شمېر پۀ سفر کښې ارمانونو سره د ژوند شپې سبا کوي -

ے

ټول دَ شوګیرو زور به مې نن لۀ خوبه وباسم
سترے مسافر یمه اودۀ مې پۀ ځنګلې کړه

رفیق استاذ دے او دلته ئې دَ استاذ تورے پۀ دوۀ معنو کښې استمال کړے دے -

ے

شاګردان که دَ رفیق دي پۀ زرګونو
خو پخپله ځان شاګرد ګڼي استاذ دے

رفیق پۀ خپلې شاعرۍ کښې متل هم استمال کړے دے لکه --

ے

دَ رفیق خبرې تل دَ کاڼي کرښې
خو ساده دي پښتانۀ پرې نۀ پوهیږي

د کلي ووځه خو د نرخه مه ووځه متل ئې پۀ ښکلي انداز کښې استمال کړے دے -

ے

چرته هم رفیق د نرخه نۀ ووځي
شولو کۀ ښارے کلي ته نۀ راځي

دَ رفیق ډېره شاعري ما ته بیخي خپله شاعري ښکارېږي زمونږ فکر زمونږ د ځنو غزلونو قافئي ردیفونه او بحرونه بیخي یو شان دي که

څوک زما کتاب سپرغه کوم چې په ۲۰۰۲ ء کښې چاپ شوے دے وګوري نو هغوئې ته به زمونږ د شاعرۍ د یو شان والي اندازه وشي خو دا خبره ځان ته ده چې نۀ خو دوئې سره زما کتاب شته او نۀ زمونږ مخکښې ملاقات شوے دے زۀ دې ته دَ توارد نوم ورکولے شم ۔

ے

زړونو کښې څۀ غرونو کښې لارې کوي
رفیقه څۀ ئې ده کافره خندا

زما شعر چې ۔

ے

سلیمه خبر خو د ایمان وغواړه
ښکلي دروکړله کفره خندا

(سپرغه چاپ ۲۰۰۲)

دا یو څو شعرونه ئې د تغزل ښکلې نمونې دي ۔

ے

دَ اوښکو څاڅکو سره وتوکېده
چې مې دُعا کله غوښتله ګل شوه

ے

اور شو زورور ګوره اوبو باندې
اوښکې ئې شوې وچې اننګو باندې

ے

په عشق کښې دے د سر د قربانۍ منظر
راتول چې پتنګان بلې ډیوې ته شو

ے

ولې په بل خبرې خپلې کوې
تۀ ئې پخپله څومره ښکلې کوې

www.pukhto.net

ے

ستـــا د پښغلتـــوب نــــه ځـــار
ځنګـــه مـــې ځـــواني ســـېزي

ے

رنګ چې د مور پلار پهٔ دعا نهٔ وے زهٔ
دا څهٔ چې یمه بیا به دا نهٔ وے زهٔ

ے

سرهٔ او سپین که ورکړې دَ تمام جهان
بیا هم نهٔ مړیږي دَ انسان سترګې

ے

څوک پهٔ دیدنونو ښهٔ مارهٔ ګرځي
څوک کړهٔ پهٔ ژړا ژړا هجران ړاندهٔ

ے

مُلا جنت ته که دوزخ ته به ځم
کچه ځوانۍ کښې مې ارمان وژلے

ے

چې ئې لاسونو نه قلم پرېوتے
بیا هغه قام پهٔ هر قدم پرېوتے

رفیق پهٔ خپلو بچو نظمونه لیکلي دي خو پهٔ غزل کښې ئې هم دا خبره څرګنده کړې ده چې -

ے

بیا پرې خوارهٔ نهٔ لږي هېڅ د دنیا
مور پهٔ خوږو چې د اولاد شي سرے

رفیق پهٔ ښکلو ښکلو کسانو پهٔ ښکلوښکلو ټکو ښائسته ښائسته مرصعه او مسجعه نظمونه هم لیکلي دي . چې پهٔ فني توګه ما ته دا

فېصله ګرانه ده چې نظمونه ښکلي دي او که غزل ئې ښکلے دے ، لکه رحمت شاه سائل صیب . اباسین یوسفزے صیب . زما حسنېن ، زما زرک ، حیا او مناحل، نیمګړے ژوند ،سېلاب او سوات ښکلي نظمونه دي ـدي نه علاوه ئې خوندورې او غنائیت نه ډکې سندرې هم لیکلي دي چې د فن او د موسیقۍ ښکلې نمونې دي ـ
پهٔ اخره کښې دومره وئېلے شم چې رفیق یو ښهٔ شاعر دے ، دوئې استعاره ، کنایه تشبیه نه علاوه ښهٔ تخیل ، تمثیل ، مقصدیت ، پند ، تغزل خوند رنګ ،اهنګ ،ندرت ،مقصدیت احساس او جزبې نه ډکه پهٔ مختلفو بحرونو کښې ساده روانه ښکلې اسانه پهٔ وزن پوره موسیقیت نه ډکه شاعري کړې ده ـ دا اعتراف ضروري ګڼم چې زهٔ بې طرفه نهٔ یم پاتې شوے ـ طمع لرم چې لوستونکي به ئې شاعري خوښه کړي ـ

سلیم بنګش
پېښور
۲۵-۰۷-۲۰۱۷

# انجروت

ما عموما" دا زیار کښاسلے دے چې دَ چا شاعر پهٔ کتاب دَ څهٔ لیکلو نه ځان وژغورم ـ ځکه چې دَ چا پهٔ لیک او تخلیق د رائے قائمولو دپاره دا بې کچه ضروري ده چې متعلقه کتاب پهٔ ډېر غور او پام سره ولوستے شي او دغه عمل دَ وخت نېولې متقاضي دے ـخو دَ بدمرغه ما پهٔ لسو جالو پښې دي ـ بې انتهاپهٔ بوختو کښې ګېر یم ـ تقسیم یم او لهٔ دې کبله وخت نهٔ لرم خو بیا هم ځنې نازولي خلق دَ دې هر څهٔ باوجود زورور شي ـ کتاب یا نور تخلیقي شیان راته دَ لیک او تقریظ دپاره وسپاري ـ

زهٔ دَ خپلو ډېرو مصروفیاتو پرته دغه تخلیقات ولولم ، او خپله رائے پرې ولیکم ـ ولې دَ افسوس وړ خبره دا ده ، چې دغه ښاغلي زما د مننې راؤړلو پهٔ ځائے اپوټه ما نه مرور او خفه شي ـ

په دې حواله زما ډېرې ترخې تجربې شوې دي ـ لکه څنګه چې ما وړاندې ولیکل چې اولا" خو زهٔ دَ چا نه مسؤده نهٔ اخلم ، سکوټ انکار ورته کوؤم ، چې وخت نهٔ لرم او خفه کېږه مهٔ ، بل چا ته ئې ورکړه ، چې لیک پرې وکړي ـ خو چې هغه مې ارو مرو مجبور کړي

نو بیا ورلـه وخت اوباسم او دَ خپـل مزاج مطابق پـرې انتقـادي نظر ورانـدې کـړم ـ دَ دغـې تخلیق کَـره او کوټـه دواړه رامخـې تـه کـړم ، خـوبۍ او خـامۍ ئـې پـهٔ ګوتـه کـړم ، دَ فکـر سـره سـره ئـې پـهٔ فـن هـم ناقدانه رائې قائم کړم ـ دغسې دَ ادبي معیار پهٔ تلهٔ ئې هم وجوکم ـ پـهٔ داسـې کولـو زهٔ ماضـي کښـې دَ بـېلا بېلـو حـالاتو سـره مـخ شـوے یم ـاکثر و بېش کتاب چاپ شوے خو زما لیک پکښې نهٔ دے چاپ شوے ـ یا داسې هم شوي دي چې زما پهٔ لیک کښې ئې تخریف کړے دے او پهٔ کتاب کښې ئې شامل کړے دے ـ دغسې خو دوه ډاکټرانو زما دَ لیک نه پهٔ خپل کتاب کښې هغه برخه شامل کړې ده چې دَ هغوئې تعریف ئې لرلو ، کومه برخه کښې چې ما پهٔ کتاب نقد اؤ انتقاد کړے ؤ هغه ئې ترې ویستې وه ـ بل زما یو ډېر خوږ ملګرے او مشر چې ما ورله پهٔ کتاب لیکل کړي وو ، وفات شو خو ما تـه ئې دَ زړهٔ نـه ګونډے ونهٔ وتو ـ

دغه رنګ ما چې یو بزرګ شاعر تـه دَ هغـه پـهٔ کتـاب دَ څهٔ لیکلو نـه انکار وکړو نو هغه راپسې زما ډېر محترم مشر ډاکټر محمد رسول دفتر ته راوست چې کمپوزر ریاض ساغر هم ورسره ؤ ـ ما دغـې مشـر ته هم هاغـه زاړه تجربات بیا دسره کړل خو هغـه وئېـل چې تـا څهٔ هم ولیکل ریاض ساغر لهٔ ئې ورکړه زهٔ ئې دَ سره ګورم نه ، هم دے زما کتـاب چاپوي او دَ مخې سره بـه ئې پکښـې چـاپ کـړي ، زهٔ بـه ئې دَ خپرېدو نه پس وګورم ـ زهٔ دَ ډاکټر صیب دَ مخه تېر نهٔ شوم ، دوه نیم سوه کتاب مې ولوستلو او لیکل مې پرې وکړل ، خو ځان سره مې نقل پاتې نهٔ کړو ـ ځکه چې زهٔ مطمئین ووم چې دغې بزرګ ډېره پخه خبره کړې وه ، ما وې کتاب هسې هم چاپېږي نو زه پهٔ نقل څهٔ کووم ـ

www.pukhto.net

سر به دي څۀ خورم څو ورځې پس ما ته دغه مشر شاعر شپږ مخونه خط راولېږو او هاغه څۀ ئې پکښې ليکلي وو چې دَ يو دومره مشر نه ئې څوک هم توقع نشي کولے ۔ زۀ ډېر خفه شوم چې زما دَ مشرانو دَ تنقيد دَ برداشت کولو دغه حال دے نو زلمي کهول نه به څۀ گيله وکړو ۔ هم لۀ دغې ورځې نه پس ما درې کاله دَ چا پۀ کتاب دَ رائے ورکولو نه توبه وويسته ۔ دې دوران کښې څو نزدې ملگرو ما ته خپلې مُسودې راکړې چې څه پرې وليکم اگرچې ما به ترې دغه مسودې به امر مجبوري واخستې او د لوستلو نه پس چې کومې مسودې زما پۀ نظر کښې دَ ليک جوگه وې پۀ هغوي مې خپله ناقصه رائې وليکله خو چې کومې مسودې غېر معياري وې يا پکښې د ټيټې درجې ليکونه وو، هغوئې ته ما پۀ ډاگه ووئيل چې دا مۀ چاپ کوئ ځکه چې پُښتو ته نن ورځې د معياري ليکونو ضرورت دے ۔ خود هغوې دې چا ر ښه وي زما دَ نۀ چاپ کولو دَ مشورې باوجود ئې دغه مسودې چاپ کړې ۔ او پۀ دغه ښاغليو کښې يو پۀ خپل کتاب کښې وليکل چې راقم الحروف زۀ دَ دې کتاب دَ چاپ کولو نه منع کړے يم خو زۀ ئې بيا هم چاپ کووم ۔

دغه شان يو بل زړۀ ته راتېر ملگري خپله نعتيه مجموعه راکړه بيا خو ما هډو انکار نۀ شو کولے ، پۀ دې چې دَ خوږ نبي ﷺ نه خو دَ يوادنٰی مسلمان پۀ حبث زما هر څۀ قُربان دي ۔ ما دَ دغې مجموعې دَ فني اړخ جائزه واخسته ۔سره دَ دې چې دغه ملگري زما ليکنه پۀ کتاب کښې چاپ کړه ، ولې پۀ يو ادبي پروگرام کښې ئې پۀ درېځ زما پۀ غېر موجودگۍ کښې ډېرې ناغوړندې ووئيلې ۔ زۀ يو ځل بيا ډېر زړۀ ماتے شوم او کلکه اراده مې وکړه چې نور به پۀ روغ سر داغونه نۀ

ږدم ـ دغسې څۀ موده واؤړېده ، ما به ملګرو ته وې چې دَ وروستې خفګان نه وړومبے خفګان غوره دے ـ

بهرحال سیراج الدین سیراج دَ خوازه خېلې راته زنګ ووهو چې زما پۀ کتاب سریزه ولیکه ـ ما هغوئ ته دغه تراخه تجربات ترسره کړه ، خو هغه نۀ قلاریدۀ ، ما پسې ئې طائر بونېرے کور ته راوست ـ زه دَ ملېمنو د خاطر نه تېر نه شوم بیا هغه د اقبال شاکر پۀ لاس موسوده را واستوله ، او شپږ میاشتې پس چې دَ هغه صبر تمام شو نو ما ته ئې ووئېل چې مسوده مې راواستوه زۀ ئې چاپ کوؤم ـ یقینا'' زۀ پۀ خپلې ناوزګارۍ بې کچه خفه شوم ، هغه نه مې دوه ورځې مُهلت وغوښتو دغه شعري مجموعه مې ولوسته اؤ څۀ مات ګډ لیکل مې پرې وکړل ـ دَ هغه دې کور ودان وي چې زما تنقیدي رائے ډېره خوښه کړه او پۀ خپل کتاب کښې ئې خپره کړه ـ

اوس چې زۀ پۀ کوم کتاب دَ لیک هڅه کوؤم دَ دې کتاب هم دا اتمه میاشت ده چې زما سره پروت دے لړ لړ مې ولوستو ، اخر چې پائې ته ورسېدو ـ رفیق یوسفزي ته ما پۀ ابتداء کښې وئېلي وو چې کۀ کتاب زر چاپوې نو زۀ دَ څۀ لیکلو نه معذرت کوؤم ، خو هغه لوستے زلمے دے ډېره پراخه سینه او ژَور نظر لري ، هغه خپله هم PhD سکالر دے او پۀ سمندر پورې یوه جامعه کښې درس ورکوي ، ځکه خو زما دَ سترې ژوند او ناقلارتیا احساس ورسره دے ، زۀ ډېر خوشحاله یم چې ښاغلے رفیق یوسفزے دَ کمپیوټرې او دَ منېجمنټ دَ دُنیا لاروے دے ، دَ دغې مېدان لوستوال او څېړنکار دے ، خو دَ خپلې مورنۍ ژبې پُښتو سره د خیام یوسفزي پۀ شان دَ مینې پت پالي ـ

هغه لکه دَ ځنو ټامیانو پُښتنو هلکانو پۀ شان نۀ دے ، چې پۀ نورو سائنسي مضامنیو کښې تحقیقات کوي ۔ او خپلې ژبې ، ادب ، او کلتور ته کوز ګوري ، بلکښې رفیق یوسفزے غښتلے او زیګ پُښتون دے ۔ هغه نۀ یواځې پۀ پُښتو ژبې ورک مئین دے بلکښې پۀ پُښتو نولۍ کښې ثاني نۀ لري ۔ هغه که یو خوا پۀ مسافرۍ کښې هم پُښتو نۀ هېروي ۔ پۀ پُښتو کښې لیک او تخلیق ته دوام بخښي نو بل خوا کوم پښتون شاعر او ادیب چې سمندر پورې لاړ دے او هغه ترې خبر شوے دے نو دَ دغې مېلمه مېلمستیا او مدار دپاره پۀ سوونو کیلو میټر تلے دے او هغه ته ئې ځان رسولے دے ، او دا شان ئې دَ راغلي مېلمه خدمت او تواضع کړې ده ۔ دا دَ هغه دَ پښتو پالنې یوه ځلنده بېلګه ده ۔

رفیق یوسفزے یو ډېر نرم ګو ، خوش ګفتاره ، شریف النفس او ښکلے پیاوړے زلمے دے ۔ هر انداز نه ئې مینه او احترام ځاځي۔ ډېره خوږه او پسته لهجه لري ، خپلو مشرانو ته بې کچه درانوے او عزت ورکوي ، پۀ یارۍ دوستۍ کښې مثال نۀ لري او هم دا وجه ده چې دَ یارانو حلقه ئې ډېره پراخه ده ۔ پۀ یارۍ دوستۍ کښې پۀ اعتماد او باور اعتقاد ساتي ۔ خو کۀ څوک ئې باور زخمي کوي نو بیا ئې داسې هېروي چې هډو دَ سره ئې پېژني نۀ ۔

دَ ښاغلي رفیق یوسفزي دَ شاعرۍ لوستو نه پس زۀ پۀ دې نتېجه ورسېدم چې دَ هغه دَ شاعرۍ موضوعات محدود نۀ دي ۔ بلکې پۀ یو شمېر موضوعاتو ئې لیکاڼې کړځولے دے ۔ هغه کۀ دَ روایت پۀ بهیر کښې دَ روماني شاعرۍ لمن نیولې ده او پۀ دغه لړ کښې ئې

خپل داخلي احساسات او جذبات پهٔ رنګینیو پیرایو کښې بیان کړي دي ۔

لکه چې وائي ۔

ے

دَ محبت پهٔ رنځ اخته دے رفیق
دَ زړهٔ لهٔ درده ئې نغمې جوړې کړې

ے

دومره دے خوږ چې پرې مړېږي نهٔ څوک
زما رفیق ته خو یو کس نهٔ رسي

ے

د سپوږمۍ نه دَ ګلونو نه ، وږمو نه
تصور کښې مې جوړ کړے ستا تصویر دے

نازک خیالي ۔

دا تړون زمونږ اسان نهٔ دے چې پرې شي
نګهتونه دَ ګلونو بېلول دي

ے

لېونے پهٔ دې ارمان شومه رفیقه
لېونۍ به مې پهٔ زُلفو باندې تړي

تجاهل عارفه ۔

قاصد چې ما ته وې تپوس دې کوي
نو ما وې ، " ښهٔ لکه نو ما پېژني " ؟

نازک خیالي ـ

ستړګي رالـه يخې کړي ديـدن دَ يـار
ترمې ترمې اوښکې لـۀ چينې راځـي

بيـــا رانـــه خفـــه شـــوله
بيـــا پـــۀ اور بنګـــړي ســـيزي

مـا بـه مـې پخـوا زړۀ صـبر کـرے وے
نـــۀ منـــي زمـــا خبـــره چرتـــه زړۀ

نو دَ دې سره سره ئې دَ عصرې شعورشوخ رنګونـه هم پـۀ خپـل کـلام کښې رانغښتي دي ـ هغه کۀ دَ مسافرۍ دَ زاره چاودې ژوند ورځې شپې پۀ پردېس کښې سبا کوي خو هغه دَ خپلې خاورې نه غافله نۀ دے ـ هغه کۀ پۀ جسماني طور سمندر پورې دے ، ولې پۀ روحاني او قلبي توګه دَ خپـل اولـس سره دے ـ هغـه کـۀ دَ غېر هېواد هغـه تجربات شعر کوي دَ هغې ځائے ستونزې تصوير کوي کومې چې هلته دوي سره راپېښېږي نو دَ دې خپل ملک عصرې پېښې هم پۀ خپل کلام کښې رانغاړي ـ دلته چې د طبقاتي نظام ، بې انصافۍ ، بې روزګـارۍ ، بـد امنـۍ ، خودغرضـۍ ، مـن مـانۍ ، بـدعنوانۍ دوکې شوکې ، سماجي ظلم ، بربريت ، بډو ، رشوت او استحصال ، کومه لوبه روانه ده نو رفيق يوسفزے ئې وينې ، هغـه پـۀ دې حـالاتو پـۀ وينـو وينـو ژاړي ـ ځکـه چې هغـه دَ پُښـتنې ټـولنې دَ نفسـياتو نـه واقف دے ـ هغه دَ دې ټولنې يو بېدار مغز زلمے دے ، دَ دې اولـس پۀ نبضونو پوهـه دے او هـم دا وجـه ده چې علمي پوهې او شعور دَ

هغـه پـۀ رؤیـه کښـې دَ احتجـاج عنصـر راپېدا کـړے دے هغـه دَ دې معروضې حقائقو پـۀ تنـاظر کښـې دَ سماجي بـدلون دَپـاره غـږ پورتـه کوي او مونږ دَ هغه پۀ کلام کښې ځائے پۀ ځائے دغـه تـوکے وينـو چې رفيق يوسفزي نه ئې دَ طبقاتي امتيـازاتو پـۀ ضـد يـو بې رحمـه نقـاد جوړ کړے دے ۔ لۀ دې امله مونږ وئيلے شو چې هغـه خپلـې منصبي ذمـه وارۍ پـوره کـوي او شـعر ئـې دَ عصـري شـعور او غوښـتنو ترجماني کوي ، دا شعرونه ئې ولولئ ۔

ستا خبرې سـپينې وي رفيقـه تـل
زۀ درنـه خفـه پـۀ دې خبـره يـم

دَ خود غرضه يار پۀ روغه کښې تاوان وي مدام
دَ ځنـې ځنـې دلـه ګـانو سـره ورانـه ښـۀ ده

خپلې بې وسـۍ مې لاس نيـولي دي
لـرې بـه کـړم زۀ دَ ځـان نـه څـۀ غشـي

دا خـو دَ بـل مخلـوق نـاکړده نـۀ ده
دا خـو انسـان دے چې انسـان وژلے

اُوده بـه څـۀ رنګـه منـزل ومـومي
چې غږ ئې غوږ ته دَ جرس نۀ رسي

يـو انسـان دے زړۀ مـې يـو شـان پـرې خـوږېږي
کـۀ رفيـق ، کـۀ مې جانـان ، کـۀ مې رقيـب دے

ه

نــن سـبا څــوک دَ چــا تپــوس نــهٔ کــوي
چې کار ئې پېښ شي نو وریاد شي سړے

ه

خـدائېګو مقـام دَ ځنـاور تـرې ښـهٔ شـو
انسان مې وژني خو بس سپے مې ساتي

بل خوا ښاغلي رفیق یوسفزي دَ پښـتو او پښـتون ولۍ موضـوع پـهٔ شعوري تـوګ چېړلې ده هغـه کـهٔ دَ ژبې پـهٔ حېث دَ پُښـتو ارزښت او قیمت پـهٔ ګوته کړے دے ، نو دَ دې نه پرته ئې پښـتو د پښـتونولۍ پهٔ ښه کښې دَ پښتنو دَ ژوند یو ضابطه هم ګرځولې ده ـ هغـه پخپلـه شاعرۍ کښې دَ پُښـتونولۍ اقدار پـهٔ ډېره احسـنه طریقـه رانغښـتي دي ـ پـهٔ دغـه لـړ کښـې دَ هغـه د ژبې متانـت ، دَ لفظونـو خوږلـت ،دَ خیـال نـدرت ، او دَ بیـان نزاکـت دَ سـتائنې وړ دے ـ دا اشـعار ئـې ولولۍ ـ

ه

دا سـې خـو ژونـدي قامونـه نـهٔ کـوي
څنګ چې پُښـتانهٔ کړي دَ پُښـتو سره

ه

رڼـا رڼـا فکـر مـې راوړو دَ رڼـا ښـاره
تیارې دَ کلي دَ کوڅو مې پرې رڼا رڼا کړې

دَ رفیـق یوسـفزي یـوه بلـه دَ زړهٔ پـورې موضـوع دَ پُښـتنې کلتـور دَ ترجمـانۍ ده ـ هغـه دَ خپـل کلچـر ډېر بلهـا رنګونـه پخپلـه شـاعرۍ کښـې خُوندي کـړي دي ـ چې دَ فکـرې صداقت ، هنـرې ښائسـت اؤ تهـذیبي وقـار پـهٔ واز کـومې ګـواهي ورکـوي ، دَ دې نـه سـر بېـره دَ ستائېلي شاعر پهٔ شعر کښـې دَ پښـتنو بـدحالۍ او زبون حالۍ ډېر

سیوري پهٔ نظر راځي ـ دغه سیوري چې دَ ورچنیزو حقائقو نه دَ هغه دَ تخیل او هنر پهٔ هنداره منعکس شوي دي نو دَ ژوندي عکسونو شکل ئې بیا موندلے دے ـ څهٔ کهٔ هم هغه دَ خپل اولس او قام پهٔ دې بدحالئ زهیر دے زړهٔ ئې کرازې کرازې او زخمي دے ځکه چې قام پرست دے ـ ولې دَ دې حالاتو ډېره زمه واري هغه پهٔ خپلو پښتنو پخپله وراړوي ـ پهٔ دې چې کهٔ دَ تبر لاسکے دَ ونې لهٔ تنه نهٔ وي نو بیا تبر هېڅ کله هم ونه نهٔ شي پرېکولے ـ پهٔ دغه ترڅ کښې ښاغلے رفیق یوسفزے دَ خپل ضمیر دَ شوره بې ټیکاوه او بې قراره دے او دَ شعر نه ئې جو تیرېږي چې هغه دَ ایمان پهٔ ځائے ګوته نهٔ ږدي ـ او نهٔ پهٔ خپل پښتني ضمیر دَ معروضي ترهو لهٔ کبله پښه کېښودے شي ـ
دې شعرونو ته ئې پام لرنه وکړئ ـ

ه

دَ بېلتانهٔ پهٔ ټپو وخت اړوؤ
مسافرې پهٔ یکه زار تېرېږي

ه

لکه ګُلونه مړاوي پهٔ ډنډر کښې اوسي
دغسې خلق نن سبا پهٔ پېښور کښې اوسي

ه

وخت دَ پښتونخوا سیمه زپلې دومره ده
ښکاري پهٔ ژوندوني لکه مړے هر سړے

ه

پښتونخواه زما جنت زما کشمیر دے
دَ سپېځلي باچا خان دَ خوب تعبیر دے

ه
مونږ پُښتانۀ به دَ نړۍ مقابله وکړو څۀ
لا مو بچي هم بې کتابه بې قلمه ښکاري

ه
دَ چــاؤدنې او دَ بــم خبــرې کيــږي
هــره ورځـــې دَ مــاتم خبــرې کيــږي

ه
دا چې تــل دَ غېــر دَ لاســه قتــل کيــږي
نا اهلي دَ پښتونخواه ده کۀ تقدير دے

دَ دې هر څۀ باوجود هغه دَ مايوسۍ په بهير کښې لا نۀ دے لاهو شوے هغه اوس هم هيله لري چې پُښتانۀ به يو ځل بيا راپوته کيږي هغوئ به ځانونه وپېژني او خپل بائيللے حېثيت به ترلاسه کړي ـ ځکه خو رفيق يوسفزے خپل اولس ته حوصله ورکوي ، چې دا تيارې وقتي دي ، دا چيلنجونه عارضي دي ـ او دا بحرانونه تل پاتې نۀ دي ـ راځئ چې دَ اتحاد او اتفاق په رسۍ منګولې ولګوو ـ دَ خپل ناوياته سباوون په لور ګامونه پياوړي کړو ـ او هاغه انجروت ترلاسه کړو څۀ چې زمونږ قامي بقا دَ پاره لازمي دے ـ

دَ رفيق يوسفزي دَ موضوعاتي تنوع او فکر تلخيص مونږ داسې بيانولے شو چې هغه کۀ يو پله دَ خپل شخصيت په څېر ډېره ښائسته ، ساهو ساهو ، مينه مينه او سوچه سوچه شاعري کړې ده نو بل اړخ ته ئې دَ پښتنو په بربادۍ دَ شعر ساندې شورولي دي ـ

هغه کۀ دَ دې حالاتو دَ راجوړېدو زمه وار پُښتانۀ ګرځولي دي نو په قامي مشرانو او حکمرانانو ئې هم تکونه کړي دي ـ چې دَ اولس دَ ژوند معيار دَ پورته کولو لړ کښې هېڅ کار نۀ کوي بلکه دَ قام نه

ویني څښي ـ هم لۀ دې امله دَ اولس دَ ژوند دارو مدار پۀ خبرات دے ـ نرۍ مو پۀ تماشه د، خبر غواړو ، دَ زده کړې او هنر نه محرومه یُو، پۀ ډلو ټپلو کښې تقسیم یُو، پۀ نسب فخر کوؤ ، پۀ جنت جنت وطن کښې پۀ پېسه پسې مسافر یُو ، او بې ضمیره مشران مو پۀ ډالرو خرڅوي ـ

دَ دې پورته بیان نه دا خبره مخې ته راځي چې دَ ښاغلي رفیق یوسفزي دَ فکري پنګې سرچینه او زېږون ځائے ټولنیزه مشاهده ده ـ دغې مشاهدې هغه دَ هېئت نه هم خبر کړے دے او دَ ژوند دَ ما هېئت پۀ رازونو ئې هم خبر کړے دے ـ

تر کومې پورې چې دَ رفیق یوسفزي دَ فني پختګۍ علاقه ده نو پۀ دغه لحاظ دَ هغه فني پېغلتوب ته لا پوره لار پرته ده ـ خو چې حوصلې ځوانې وي ، ولولې تودې وي او همت پیاوړے وي نو هره لار غوڅېږي او هر مرام ترلاسه کېږي ـ او پۀ دغه حواله رفیق یوسفزے ښۀ چاق ، چمتو ، تېز طرار او چټک دے ـ خپل منزل ته روان دے او ډېر زر به دَ هنرې اعتبار او فني اعتماد ښاپېرۍ ترکالۀ کړي ـ

ډاکټر علي خېل دریاب
چئیرمېن پښتو څانګه
ملاکنډ پوهنتون
۱ جنوري ۲۰۱۸

# دا سباوون دے پۀ رښتیا سباوون

ناویاته سباوون دَ ښاغلي رفیق یوسفزي دَ تخلیق دریم پړاؤ دے دَ دې نه وړاندې ښاغلي دَ تخلیق دوه مرحلې " تۀ چې راغلې پسرلے شو" او " پۀ اورونو کښې ګلونه " پۀ پوره انهماک او هنري اخلاص سره سر ته رسولي دي ـ

دَ ښاغلي رفیق یوسفزي دَ تخلیق سفر دَ خارج او دا خل پۀ ویرو کښې راګېر پاتې شوے دے - دَ بدلیدونکي معروضي حالاتو تُندۍ او تېز رفتارۍ دَ ژوند دَ قیامتونو شور، دَ پېغلو پېغلو جذبو پۀ لمنه لګېدلے دا دَ رُسوایۍ خوربدونکے اور ، پۀ پرهرونو کښې ورک انغښتے دَ ارمانونو کلے کوراو دَ سندرو پۀ وجود کښې ورک دَ احساساتو ټنګ ټکور دَ شاعر پۀ تخلیقي ظرف لوبې دَ لوبو کړې دي څکه خو ئې لفظونه دَ خپلې ښکالونه او مینه دَ ښائستونو دَ کالونه تېښته کوي - خو بیا هم خپل محور او مرکز ته دَ راستنېدلو زور کوي ـ دَ ګرېز او مېلان او دَ تېښتې او واپسۍ دا عمل دَ ښاغلي رفیق یوسفزي دَ شاعرۍ پۀ ساګانو کښې ښکاره او پټ محسوسیږي ـ ښاغلي پۀ ژوبل ژوبل زړۀ او زخمي زخمي قدمونو خپل مرام ته دَ رسېدلو هڅې نۀ هېرې کړې دي او نۀ ئې ترېنه مخ اړولے دے - دَ ژوند دَ درد هرې څړیکې ته ئې هر کلے وئېلے دے او دَ مینې دَ هر پرهر نه ئې دَ هنر دَ ناوې دَ مخ سرۀ جوړ کړې دي ـ

" ناویاته سباوون " دَ دردنو پۀ صحرا کښې راټوکېدونکے ګُلاب ګُلاب څیره ده چې پۀ خپلو وړمو او خوشبو سا ډوبؤنکي نوي سحرونو زیري

کوي ـ دَ وختونو پۀ لمبو کښې دَ ځوانۍ سندرې وئیل یقیناً چې اسان کار نۀ دے خو ښاغلي رفیق یوسفزي دَ خپل اندېښنه اندېښنه تصوراتو باوجود دا سلسله ژوندۍ ساتلې ده - او دا یقین ئې راپیدا کړے دے چې کله حوصلې لوئې وي نو ازمېښتونه ، امتحانونه ، حادثې او سانحې ډېرې وړې پاې کېږي ـ

هم پۀ دې تناظر کښې ښاغلي خپلې مجموعې لۀ دَ " ناویاته سباوون " عنوان ورکړے دے - ښاغلے پۀ دې راز خبر دے چې ځنې وخت تیارې هم دَ سباوون فرېب راپیدا کولے شي - چې انجام ئې تیاره او تاریک دے - او دَ تخلیق ور ئې پۀ دې ډاډ تسله کړے دے چې سحرونه ړاندۀ نۀ وي او دَ رڼا دَ پلوشو سره پۀ لاره تلونکي منزلونو او ښائستونو ته اخر ورترغاړه شي او ناویاته شي ـ

ے

چرته چې حق وي باطل تېښته کوي
موسیٰ چې راشي نو قارون ختم شي

ے

زندګي څۀ ده خو جانان لټول
ختم شي هر څۀ چې لټون ختم شي

دَ سباوون منزلونه او پلوشو سفردَ ښاغلي رفیق احساس داسې سندره کوي ـ

ے

سوچ دَ سبا وکړه دَ پرون غمونه مۀ ژاړه
نۀ راځي پۀ لاس ، دَ تېر ژوندون غمونه مۀ ژاړه

www.pukhto.net

دَ رڼاګانو سره رشتې دَ ښاغلي رفيق دَ نظر نه دَ سرحدونو او افتراق احساس تروړلے دے او انسانيت سره ئې ورله درد مشترک او يو کړے دے ۔

ے

يو انسان دے زړۀ مې يو شان پرې خوږيږي
کۀ رفيق کۀ مې جانان کۀ مې رقيب دے

دَ ښاغلي رفيق يوسفزي ناوياته سباوون دَ ژوند پۀ لوټلو شوو کاروانونو دَ ابادۍ او سوکالۍ زيرے دے خو د ښاغلي سره دا ويره هم پۀ مرحله مرحله ملګرې ده ګني کۀ دَ رڼا ړاندۀ خپل ځانونه بدل نۀ کړي نو مجرد سحر او ناوياته سباوون به داسې خپله معنٰى وبائيلي لکه چې غمونه راختلي وي او سترګې او ضميرونه بېداره نۀ شي ، ځکه خو وائي ۔

ے

چې رڼا راؤړم ړاندۀ پرې نۀ پوهيږي
کۀ اواز کوؤم کاڼه پرې نۀ پوهيږي

ے

اودۀ به څۀ رنګه منزل ومومي
چې غږ ئې غوږ ته دَ جرس نۀ رسي

ے

چرته رانه ورک شولو کاروان څۀ پته نۀ لګي
پاتې شوم تنها پۀ بيابان څۀ پته نۀ لګي

دَ ښاغلي رفيق يوسفزي پۀ " ناوياته سباوون " کښې وخت پۀ وخت دَ حادثو شور راپورته شي خو ورو ورو پۀ خاموشۍ بدل شي ۔ پۀ

پرهرونو کښې اند یښنه بې لباسه ګوته پۀ خُلۀ وردیږي خو بیا پۀ خپل ځان کښې راڅول شي ـ محرومۍ او بې وسۍ پکښې ماتم ماتم سرونه سرتور کړي خو بیا دَ راتلونکو سحرونو پۀ اُمید خپلې زبېرګي زبېرګي سلسلې ګرځي پۀ ګرځي او کړي پۀ کړي خوَرې وَرې کړي ـ

بهر کیف دَ " ناویاته سباوون " تخلیقي سفردَ اُمید او ویرونو راڅول سفر دے ـ البته شاعر پۀ یوه مرحله هم دَ قیامتونو پۀ ناروا هنګامو کښې تُوره ډال نۀ غورزوي او دَ ژوند امکانات راپیدا کوي ـ یقیناً چې کله کله ئې لهجه ستړې او ستومانه هم شي خو پۀ مجموعي اعتبار ښاغلے رفیق یوسفزے دَ رجائیت حامل شاعر دے ـ دَ ژوند سره مینه کوي او مینې سره ژوند او مینه لازواله وي ـ

دَ ښاغلي پۀ " ناویاته سباوون " کښې دَ رومان او انقلاب سندرې هم شته ، دَ ترقۍ خوښې رحجانات پکښې هم ډېر ښکاره دي ، دَ قامولۍ او قامیت احساسات پکښې هم ښۀ جوت دي ـ دَ جدید ادبي حیاتو نه هم دا مجموعه بې زاره او بې نیازه نۀ ده پاتې شوې خو چونکه پۀ دې ټولو حوالو محاکمه کول دَ ستومانه طوالت باعث عمل ګرځېدو ـ لهٰذا پۀ " ناویاته سباوون " کښې دَ عنوان سره تړلي مضامینو او کېفیاتو سرسري تذکره وکړے شوه چې کم از کم لوستونکو ته دَ کتاب دَ معنویت دننه جهانونه راښکاره شي چې دَ تخلیق مقصود هم پۀ ډاګه کوي او جواز ئې هم پۀ ګوته کوي ـ

البته پۀ ځنې ځنې مرحلو کښې " ناویاته سباوون " دَ اوازونو دَ تعطل او دَ سېلابونو دَ کمۍ بېشۍ احساسات هم رابېداروي ولې

دا احساسات دَ علاقائي لهجې او ځنې مقامي تورو دَ خاص مخارجو پهٔ تناظر کښې تر ډېره حده خپل وجود هم بائېلي ۔
دَ ښاغلي رفيق يوسفزي " ناوياته سباوون " دَ يويشتمي صدۍ دَ تخليقي شعور دَ جدتونو لازمي رعايت پهٔ ضروري ساعتونو کښې هېر کړے نهٔ دے او دَ وخت غوښتنې ئې پهٔ نظر کښې ساتلي دي ۔ځکه دَ هر لوستونکي دَ زړهٔ پهٔ درزاګانو کښې ځائېږي ، او پهٔ ذهنونو باندې يادګار نقشونه او عکسونه مرتب کوي - دا پلوشه پلوشه او رڼا رڼا ناوياته مجموعه دَ خپل سفر پهٔ دائره ساعت پهٔ ساعت کشادګي راولي او دَ پښتنو دَ ذُوق نه دَ نفاست داد حاصلوي ۔
يقيناً دې شعري ګُلدستې کښې داسې ژوندې اشعار موجود دي چې خپل شاعر به دَ خپلو ټولو حالاتو او واقعاتو سره ژوندے ساتي او دَ پښتون قام دَپاره به دَ ناوياته سباوون زېرے ګرځي ۔

## پهٔ ډېر درناوي

پروفېسر ډاکټر اظهار الله اظهار
صدر اردو څانګه
اسلاميه کالج پوهنتون
پېښور
۲۰۱۷-۷-۱۵

# خپلې خبرې

ناویاته سباوون زما د شاعرۍ دریم کتاب دے چې چاپ شو.ددې نه مخکښې زما دوه کتابونه " ته چې راغلې پسرلے شو" "او پۀ اوروںو کښې ګلونه "دوه دوه ځله چاپ شوي دي .دا د الله ډیر شُکر دے چې ما له ئې دومره توان ، همت او مهلت راکړو چې پخپله ژبه کښې تخلیق وکړم او بیا ئې چاپ هم کړم ـ ځکه چې زه خو د کمپیوټر او منېجمنټ پۀ مېدان کښې هسې کووم او دَ روزۍ زریعه مې هم ده خو دې سره پۀ خپله ژبه کښې لیک او لوست د الله خاص مهرباني ده ـ

دَ دې کتاب " ناویاته سباوون " دَ نوم انتخاب دَ معنونیت پۀ تناظر کښې پۀ شعوري توګه شوے دے چې یو خوا دَ پښتون قام دپاره دَ یو داسې ناویاته سباوون دَ ارمان څرګندونه ده کوم چې دَ بېدارۍ ، مینې ، محبت ، امن ، اتفاق ، اتحاداو دَ خوشحالۍ سباوون وي ـ بل خوا سباوون زما دَ دوه نیمو کالو ماشومه لور هم ده ، دَ پلار او لور مینه لازواله وي - دَ ډېر کوشش باوجود ما پۀ خپلې سباوون څۀ لیکل ونۀ کړے شو حالانکه پۀ خپلو زامنو حسنین او زَرک مې نظمونه لیکلي دي او پۀ دې کتاب کښې چاپ هم دي دَ لور دې لازواله او ناویاته مینې پۀ دې مجبور کړم چې دا پوره کتاب دَ هغې پۀ نوم کړم ـ

دَ مُحترم سلیم بنګش صیب ،پروفېسر ډاکټر علي خېل دریاب صېب او پروفېسرډاکټر اظهارالله اظهار صېب یو جهان مننه کوؤم چې دَ خپل ډېرو مصروفیاتو سره ئې پۀ دې کتاب سریزې ولیکلې او تاسو سره ئې زما دَ شاعرۍ پۀ حقله خپلې قیمتي رائے شریکې کړې ـ د سلیم بنګش صېب سره زما دوه ملاقاتونه شوي دي او دَ

اظهار صیب او دریاب صیب سره یو یو ملاقات شوے خو دې درې واړو شخصیتونو کښې یو څیز مشترک دے او هغه عاجزي او خاکساري ده۔ دغه ملاقاتونه به داسې وو چې پاسېدو ته به مې زړهٔ نهٔ کېدو .الله دې ورله ډېر عمر او توان ورکړي چې د پښتو نور خدمت هم وکړي او د کشرانو راهنمائي هم وکړي ۔

د ښاغلي وسیم دربار صیب هم یو جهان مننه کووم چې زما دَ نورو کتابونو پهٔ شان ئې دَ دې کتاب کمپوزنګ هم پهٔ ډېره ښه طریقه وکړو ، دَ ښاغلي قاضي عمران الله مننه کوؤم چې دَ کتاب سرپاڼه ئې پهٔ ډېر هُنر سره جوړه کړه ۔

دَ ښاغلي فلک ناز ډېر مشکور یم چې دَ پرنټنګ او پرېس هلې ځلې ئې پهٔ خپل سر واخستې .یقینا" دا کتاب به نه وے چاپ که د مشرانو او ملګرو دغه کومک راسره نه وے ۔

دَ ګران ملګرو خیام یوسفزي او انجنئیر فاروق خان بې حده مشکور یم چې دَ ژوند هر مُشکل دَ دوئي سره شریکوؤم ۔

دَ دمام پښتو ادبي بهیر دَ ټولو غړو ډېر منت بار یم چې زهٔ ئې پهٔ مینه نازولے یم ۔

دَدې نه علاوه د ټولو ښاغلو ملګرو استاذانو شاګردانو او لوستونکو یو جهان مننه کووم چې زما شاعري ئې اوربدلې او ستائیلې ده او ماته ئې داد او ډاډ راکړے دے او زه ئې نور لیک ته پارولے او چمتو کړے یم ۔

پهٔ ډېره مینه

رفیق یوسفزے

جنوري ۲۰۱۸

ګُل پکښې ستي شو ،دَ کلۍ کلۍ نه ساه خیژي
اور دے لګېدلے ، شنه لوګي دَ پُښتونخوا خیژي

هېڅ تَرس پهٔ زړهٔ کښې دَ دې دور دَ انسان نشته
هر لور ته ماتم ، چغې ، سورې دي او غوغا خیژي

زېرے دَ ناویاته سباوون خو هر سحر راوړي
سترګې مې غړېږي نهٔ چې سترګه دَ سبا خیژي

ډېر خلق شو قتل بې ګُناه دَ دهٔ دَ لاسه هم
دا ځلې به وګورئ پهٔ دار به دا مُلا خیژي

ډېره کهٔ دَ ظلم ګېر چاپېره ده تیاره خوَره
بیا هم یو اُمید شته پکښې ځائے پهٔ ځائے رڼا خیژي

کله چې رقیب هم ازمائیلې خپله مینه ده
مینه دَ رفیق ترېنه پهٔ هر ځلې سېوا خیژي

****

لکه چې نن راشي ، پرون ختم شي
سرے هيڅ پوئ نۀ شي ژوندون ختم شي

چرته چې حق وي باطل تښته کوي
موسٰی چې راشي نو قارون ختم شي

اغيار دې خپل ځان له زُور نۀ ورکوي
ممکنه نۀ ده چې پښتون ختم شي

خوارۀ ياران خو سود او زيان بېلوي
ډېر دَ مودو مودو ترون ختم شي

زندګي څۀ ده خو جانان لټول
ختم شي هر څۀ چې لټون ختم شي

رفيقه پام کوه فاني ده دُنيا
کۀ وي مجنون کۀ افلاطون ختم شي

رفيقه سر وخوري فناه شي سره
چې دَ قامونو نه پاځون ختم شي

****

www.pukhto.net

زړۀ مې خورېدو چې پۀ جولۍ بـه خوَرېده
رخصت چې مې ترې اخست نو جینۍ به خوَرېده

مـا بـه پرې ګُمان ستا دَ سُرکو شُونډو کولو
نسیم چې بـه پرې راغے نو کلۍ بـه خوَرېده

هاغـه لوپټـه اوس هلتـه نـۀ وي مـوده وشـوه
چې وخت بـه دَ دیدن شو پۀ بلۍ بـه خوَرېده

ستا تلۀ عجیبه غم ؤ هېڅ پۀ چل نۀ پوهېدم
مـا ډېره پټولـه خـو سلګۍ بـه خوَرېده

دُومره وه نازکـه چې ئې حد نـۀ ؤ رفیقـه
چې لاس بـه مې وروړ نو لولکۍ بـه خوَرېده

****

ناست یمه دلګیر دلګیر
ګورم دې تصویر تصویر

اوښکې مې لۀ سترګو نه
لاړې شي بهیر بهیر

اوس دے پۀ هر لور قدغن
ټول وطن زنځیر زنځیر

خوب کښې اکثر تا وینم
څۀ ئې دے تعبیر تعبیر

واګې دَ تقدیر نیول
نۀ شي پۀ تدبیر تدبیر

ستا پۀ در کښې ژاړمه
زۀ لکه فقیر فقیر

ښۀ سوچه پُښتون یمه
زۀ رفیق لۀ دیر لۀ دیر

****

خومره اضطراب وي دَ مېخوار پهٔ مخ
وي دَ زاهــدانو تــل قــرار پــهٔ مــخ

زهٔ ئــې کــړم اشــنا حجــر اســود ســره
داسې یو تور داغ مې دے دَ یار پهٔ مخ

ډېــرې وي خبــرې دَ نــادان ســړي
وي به خاموشي تل دَ هوښیار پهٔ مخ

پوئ شوم چې قصه ښهٔ کړه وَړه ده
ښکاري نهٔ اثار ښهٔ دَ رېبار پهٔ مخ

ټول وطن سېلاب پهٔ سر اخستے خو
هېڅ هم پاتې نهٔ دي دَ نوښار پهٔ مخ

ستا در لــه راغلے ستا رفیق یمه
پروت مې ستا دَ لارې ګرد غبار پهٔ مخ

****

ښې سپرږدېدو ته غوټو خُلې جوړې کړې
خو نۀ راتلو دې ورته شپې جوړې کړې

دَ هجران یو نۀ ختمیدونکے ژوندون
وصال ترې څو مره زر لمحې جوړې کړې

خوئ دَ ازغو خو څۀ بدل نۀ شولو
کۀ ئې ګُلونو نه جامې جوړې کړې

سپرلې چې راؤړل رنګارنګ ګُلونه
وګوره تاله مې ګجرې جوړې کړې

دَ محبت پۀ رنځ اخته دے رفیق
دَ زړۀ لۀ درده ئې نغمې جوړې کړې

****

ګُل غوندې ځواني وه ، لاړه تېره شوه
تولــه ارمــاني وه ، لاړه تېـــره شـــوه

لا پـۀ اباسين کښې غورځنګونـه شـته
چـــا وې رواني وه، لاړه تېـــره شـــوه

ډېـره نازېـدې بـه تـۀ پـۀ خپـل حُسـن
دوه ورځـې خـاني وه، لاړه تېـره شـوه

دا دُنيا بـه ستا يـو پـۀ جنت کښې بيـا
وايـــو بــه فــاني وه، لاړه تېـــره شـــوه

دا زمانـــه هـــم لاړه ارمــان ســـره
څـو کـۀ ځـان ځـاني وه، لاړه تېـره شـوه

ښنـګ خـوَږه خـوږه وه دَ رفيـق قصـه
ښنګـه خفګـاني وه، لاړه تېـــره شـــوه

****

سوچ دَ سبا وکړه دَ پرون غمونه مهٔ ژاړه
نهٔ راځي پهٔ لاس ، دَ تېر ژوندون غمونه مهٔ ژاړه

لا خو دې ځواني ده ، سینه ډال کړه دې حالاتو ته
سر دې کړه راپورته لهٔ زنګون ، غمونه مهٔ ژاړه

یه پُښتنې پېغلې تا ته ستا اُوښکې پېغور نه شي
تهٔ لکه لېلی دَ خپل مجنون غمونه مهٔ ژاړه

کیږي هر څهٔ کیږي خپل منزل ته به هم ورسې
لږ خو ورپسې وکړه لټون غمونه مهٔ ژاړه

دربه شم ، یو ځائے به شواو خاندو خوشحالیږو به
لرې به تر مئینځه شي بېلتون ، غمونه مهٔ ژاړه

سر چې ئې رفیقه اوس پېغور ته هم تیتیږي نهٔ
بیا خو ئې بس پرېږده دَ پښتون غمونه مهٔ ژاړه

****

www.pukhto.net

پرېږده مه چې ستا لمن
نیسم به دِ چا لمن

ستا ازغو سورې کړله
ګُله دَ بورا لمن

ستا درله مې راوړله
ډکه دَ ګناه لمن

ځان ته چې زاهد وائي
مونځ کوي په سخا لمن

وخت راله تور کړے مخ
پاکه ده زما لمن

پام ګورے ونهٔ لګي
داغ دې په صفا لمن

زړۀ ئـې د ے دَ بنـیرو ډک
سـپینه دَ مُـلا لمـن

سپین مې د ے رفیقه نیت
ویـنځم دَ ریـا لمـن

****

## ګُل او ازغي

نشته د ے ازغـو تـه ضرورت دَ ګُـل
ګُـل ورتـه محتـاج د ے نزاکت لـري

ټول عمر چې ګُل ته شو ګیرې کوي
حـق خـو بـه ازغـي دَ رقابـت لـري

****

زما پۀ زړۀ جوړ شوے ستا تصویر دے
دا ستا پۀ لاسو کښې دَ چا تصویر دے

ټُوکړې ټُوکړې ئې پۀ ډېران شیندلے
راته ښکارېږي چې زما تصویر دے

دا چې تور تور او سوے سوے ښکاري
دا مې دَ ښُکلې پښتونخوا تصویر دے

زۀ دَ مُلا نه هسې نۀ ؤم خلاف
ما چې ژړلو هغه دا تصویر دے

ما له به چرې بې ننګې رانۀ شي
زوَړند مې کور کښې دَ بابا تصویر دے

رفیقه نشته دَ ګلونو حاجت
خومره مې ښکلے دَ اشنا تصویر دے

****

دَ تقدیر پهٔ وړاندې زېر ئې هر ترکیب دے
فلسفي دے کهٔ مُلا دے کهٔ ادیب دے

بې محنته ئې قائل نهٔ یم ملګرو
رسیدلے کهٔ هر چا ته خپل نصیب دے

تلهٔ بې واره ترې ، راتلهٔ ورته پهٔ وار دي
دَ دُنیا څهٔ عجیبه غُوندې ترتیب دے

نهٔ پوهېږم خو پهٔ مرګ مې خوشحالیږي
کهٔ قاتل کهٔ مسیحا کهٔ مې طبیب دے

یو انسان دے زړهٔ مې یو شان پرې خوږیږي
کهٔ رفیق کهٔ مې جانان کهٔ مې رقیب دے

****

کـــهٔ دې ذَرې لکـــه اوړه کړمـــه زهٔ
پښتون یم نور څهٔ خو دې نهٔ کړمه زهٔ

پهٔ ځان دې خپله حرام کړے دے خوب
چې دې دَ مرګ پهٔ خوب اودهٔ کړمه زهٔ

ستا کهٔ دا خیال وي چې قلم قلم شوم
کـم عقلـه ځـان تـه دې تېـرهٔ کړمـه زهٔ

زمـا خـو مـرګ دَ شـهادت نصیب شـو
دَ خپلـه لاسـه دې هـم ښـهٔ کړمـه زهٔ

زمـا پـهٔ نـوم چـې مزائیـل جـوړوې
ختم دې نهٔ کړم ، ښـهٔ دې شتهٔ کړمه زهٔ

پـهٔ مـا خـو هسـې ورانـه شـوې دُنیـا
رفیقـه نـوره دُنیـا څـهٔ کړمـه زهٔ

****

www.pukhto.net

چرتــه درد چرتــه ټکـور او چرتــه ســاز دے
کېفیـــت جُـــدا جُـــدا دَ هـــر اواز دے

دَ انســان فطـرت غنـي خـان بیـان کـړے
علامـت کـۀ دَ خیـام ، محمـود ، ایـاز دے

څـۀ هـم نـۀ دي بـې مقصـده پېـدا شـوي
دَ جهـان دَ هـر یوشـي تخلیـق کښـې راز دے

بُلــبُلان خــو هســې نــه دي ســرګردانه
پــۀ ګُلونــو چــې چمــن واړه ښــېراز دے

پــۀ صــفت مــې دَ جانــان مړېــدۀ نشــته
مینــه مینــه اداګــانې دي او نــاز دے

شــاګردان کــۀ دَ رفیــق دي پــۀ زرګونــو
خـو پخپلـه څـان شـاګرد ګڼـي اسـتاذ دے

****

ما وئېل کۀ ما ته شو ګُلاب پۀ خندا
جانان چې راکړلو جواب پۀ خندا

تا وې زما تصویر دې سوے جوړې
ما درته ببرته کړو کتاب پۀ خندا

شُوندې دې ګُل سترګې دې ډکې کاسې
سم دې راواړول شراب پۀ خندا

کله پۀ غم او ژړا مړ کړمه ځان
کله راواخلمه رباب پۀ خندا

دا به زما ناروغه زړۀ ټکور کړي
تا ته به رب درکړي ثواب پۀ خندا

رفیقه سمې زړۀ کښې لارې کوي
خدائېګو چې ما به کړي خراب پۀ خندا

****

انګـــي دې دواړه ســرۀ لکــه ګُــلاب شـــي
چې غصــه شي نــو زمــا زړګے کبـاب شي

پـۀ هجـران کښـې دَ یـو بـل قـدر پېـدا شـي
مُسلســـل خــو دیدنونــه هــم عــذاب شـــي

ګرم خو نۀ دے کۀ مغرور دے یار پۀ حُسـن
قیمتـي شـي څیـز پخپلـه چې نایـاب شـي

کلــه کلــه ښــۀ ډېــر وخښــي کلــه نــۀ وي
دا رندان خو هم پۀ دې چل کښې خراب شي

تــا بــه هـم دَ ځــان ســره پــۀ مخــه واخلــي
هسې نـۀ چې دا زمـا اُوښـکې سېلاب شي

هــېڅ پــۀ خُلــۀ ئــې دَ وېنــا ضــرورت نــۀ وي
اے رفیقــه اُوښـکې خپلـه یـو جـواب شـي

****

څۀ وحشت مې دے راغلے پۀ ارمان کښې
چې یو تار مې پاتې نۀ شو پۀ ګرېوان کښې

دَ زړګي دَ لېونتوب خو مې دا حال دے
رانه غواړي سرۀ ګُلونه پۀ خزان کښې

دا مې یار پۀ سپین رُخسار زُلفې خورې کړې
کۀ وربځې دي راغلې پۀ اسمان کښې

دَ شېطان دَ فرېبونو حاجت نشته
دغه خوئ دے اوس راغلے پۀ انسان کښې

تۀ چې مینې ، محبت ته سپک نظر کړې
شېخه فرق دې راغلے پۀ ایمان کښې

دَ رفیق شعرونه هسې خواره نۀ دي
دَ صفت خبرې ډېرې دي جانان کښې

****

چې بَره تر اسمانه مو نظر دي خېژولي
دا ځنې ځنې خلق مونږ په سر دي خېژولي

ګواه پرې تاتره ده تاترين ئې دے ځائے شوے
مُغلو کـۀ لښکرې پـۀ خيبر دي خېژولي

اوس نۀ پوهېږم خلقه چې لا دا څنګه انصاف دے
اُوبـۀ او پـی چـا دواړه برابر دي خېژولي

"چې ښۀ نۀ کوې بد نشته" پښتو کښې دا متل دے
بس لاندې ئې لۀ ښو کړو چې مونږ بر دي خېژولي

دا څۀ کوې رفيقه تا خو خُم دے پۀ سر کړے
اے دلته خو يو ګوټ خلق اکثر دي خېژولي

****

www.pukhto.net

چې سپرلے ترېنه روان دے ځي په تلو دے
ګُل خو پروت ځکه نسکور په ژړېدو دے

خدائ دې ستا په زړۀ دَ رحم اُوبۀ توئې کړي
دَ ځوانۍ غندل مې ځي په وچېدو دے

دا ئې بل انداز دَ مينې دے ملګرو
چې جانان مې رانه هسې په ګيلو دے

کۀ هر څو ښائست په سترګو کښې رانغاړم
خو دا ګُل دَ وچېدو، دَ دوړېدو دے

ښکلے ارمان دَ رفيق زړۀ کښې ډېره شوے
چې بدليږي نۀ هم نۀ دَ زړېدو دے

****

خلـق وائـي بـد وخـت پسـې ښـهٔ راځـي
مـا بانـدې خـو ښـهٔ وختونـه نـهٔ راځـي

دا خـو معجـزه ده سـتا دَ مـړو سـترګو
مـرګ لـه دَ ژونـدو لکـه چـې مـړهٔ راځـي

دې نه لوئې غفلت بـه لا کېـدے شي نـور
خـوب رالـه دَ نمـر پـهٔ راخاتـهٔ راځـي

هـره ورځ وژلـے یـم دې خپـل ضـمیر
سـختې بـه لا نـورې پـهٔ مـا څـهٔ راځـي

مابانـدې خـو هـره ورځ اختـر وي سـم
ډلـې سـتا غمونـه مېلمانـۀ راځـي

تـا تـه چـې رفیقـه زۀ دروګـورم
ووایـه چې ستا پـۀ زړۀ کښې څۀ راځي

تـۀ چې مې رفیـق ئې هېڅ پـرواه نشـته
هر څو لوئې طوفان کۀ مې پۀ زړۀ راځي

****

## ګُل ځواني

رابـه شـي سـپرلے غـوټۍ بـه وسـپړي
ګُـل بـه مـې ځـواني نـه کـړي پـۀ بېرتـه بيـا

سـتا مینـې ایلـه ابـاده کـړې یـم
غـم دې وېرانـي نـۀ کـړي پـۀ بېرتـه بيـا

****

ستړګې دې لېندې دي او بانه غشي
لګي مې رسا رسا په زړۀ غشي

سم لګي که هر څو ځي کاږۀ واږۀ
ستا دَ کږو سترګو نه کاږۀ غشي

زۀ به ورته ډال کړمه سينه خپله
شابسې تيار کړه راله تۀ غشي

وولَه ما ياره زړۀ دې يخ کړه ښۀ
څۀ له دې ساتلي دي تېرۀ غشي

خپلې بې وسۍ مې لاس نيولي دي
لرې به کړم زۀ دَ ځان نه څۀ غشي

سترګو ئې رفيقه ژوبل ژوبل کړم
ما باندې چاپېره وربدۀ غشي

****

یاره پۀ خندا باندې به ځان وژنو
راشه نن دَ سپلمې رقیبان وژنو

زۀ دې خوَروؤمه پۀ خپل لاس کمڅۍ
مونږ کله دَ بل پۀ لاس ماران وژنو

هېڅ چې دَ تقدیر پۀ وړاندې کېږي نۀ
ځان ولې بیا هسې پۀ خفګان وژنو

مونږه تل دَ خر پۀ ځائے کلال داغو
ګوره دَ شېطان پۀ ځائے انسان وژنو

ښۀ ده چې پۀ یار باندې قربان کړو سر
ځان چې ئې رفیقه پۀ ارمان وژنو

****

چې رڼا راورم ړاندۀ پرې نۀ پوهیږي
کۀ اواز کوؤم کاڼۀ پرې نۀ پوهیږي

دا فریاد دَ وږې خېټې مې پۀ خُلۀ دے
خلقه هېڅ کله ماړۀ پرې نۀ پوهیږي

عجیبه دي سا دَ سترګو رموزونه
لا تر اوسه مې دا زړۀ پرې نۀ پوهیږي

هر یو شعر مې دَ عشَق فلسفه ده
عاقلان لکه واړۀ پرې نۀ پوهیږي

دَ رفیق خبرې تل دَ کاڼي کرښې
خو ساده دي پُښتانۀ پرې نۀ پوهیږي

****

لکــه رنځــور چــې وي درمــان وژلـے
پــهٔ خــوَږو زهــرو یــم جانــان وژلـے

افسوس چې تا ته څهٔ احساس نهٔ کیږي
مــا خــو دا ســتا دپــاره ځــان وژلـے

مُــلا جنــت تــه کــهٔ دوزخ تــه بــه ځــم
کچــه ځــوانۍ کښــې مــې ارمــان وژلـے

لکــه چــې تــول انســانیت قتــل کــړي
چــې بــې ګناه چــا یــو انســان وژلـے

کله چې زړهٔ کښې مې راغلے خواهش
زر مــې دَ اوښــکو پــهٔ بــاران وژلـے

دا خــو دَ بــل مخلــوق نــاکړده نــهٔ ده
دا خــو انســان دے چــې انســان وژلـے

رفیقــه دې تــه خودکشــي وایمــه
خلــق کــهٔ وائــي څــوک خفګــان وژلـے

****

خلق چې جام وڅښي دَ ګُناه طرف ته ځي
ذهن بس زما پکښې دا ستا طرف ته ځي

دغسې له تا نه هم مجبوره درپسې يم
څنګ لکه پتنګ چې دَ رڼا طرف ته ځي

يو طرف ته تهٔ بل ته به زهٔ شمه رقيبه
ګورو چې يار ستا او کهٔ زما طرف ته ځي

زورخو پهٔ اسلام اوجمهوري نظام کښې نشته
خوښه دَ هر چا ده چې دَ چا طرف ته ځي

مونږ خو دَ عزت او دَ غيرت وړي پُښتانهٔ يُو
ځکه مو خبره دَ انا طرف ته ځي

وڅښي چې رفيق نو بيا ئې ګوره تماشه وي
کله دَ ژړا کله خندا طرف ته ځي

****

زما پۀ خپل زړګي څۀ وَس نۀ رسي
ګنې نو ستا پکښې یو خَس نۀ رسي

اُودۀ بـه څۀ رنګـه منزل ومومي
چې غـږ ئې غـوَږ تـه دَ جَرس نۀ رسي

دَ عشَـق لارې ځـي جنـون طـرف تـه
دَر تـه دې عقلـه بیـا واپـس نۀ رسي

شُونډې دې سرې سترګې دې مړاوې بلها
ورتـه ګُـلاب ورتـه نـرګس نـۀ رسـي

زړګے مې مـات چـوري چـوري شـو اخـر
خـو سـتا غوږونـو تـه ئې کـړس نـۀ رسي

دومره دے خوږ چې پرې مړیږي نۀ څوک
زمـا رفیـق تـه خـو یـو کَـس نـۀ رسـي

****

www.pukhto.net

سرېکه یم ، نغمه یمه ، سندره یم
جوړه مې دَ خُوږ زړهٔ لهٔ پرهره یم

اوښکې وې زهٔ خاندمه چې ژاړې تهٔ
ځاځم دې لهٔ سترګو ملغلره یم

هیڅ دَ رقیبانو پرواه نهٔ کوؤم
ستا دَ ګُمانونو نه پهٔ یره یم

نهٔ دې راځي ما له فرښته دَ مرګ
مړ پهٔ تا دَ مخکښې نه دِلبره یم

هاغسې مې یاره تهٔ پهٔ زړهٔ کښې یې
وَتے ستا دَ زړهٔ نه به دَ سره یم

ستا خبرې سپینې وې رفیقه تل
زهٔ درنه خفه پهٔ دې خبره یم

****

لکه چې څنګ پۀ سُور انګار تيريږي
داسې ژوندون مې بې لۀ يار تيريږي

وائي خدايه چې مې سترګې نۀ وے
کله چې يار مې پۀ مزار تيريږي

راشي دُنيا ته خپل کردار له سړے
بيا ترېنه دروممي بيا ئې وار تيريږي

پۀ خپلو کړو باندې پښېمان دے رقيب
اوس کړي سر ښکته چې پۀ لار تيريږي

دَ ببلتانۀ پۀ تپو وخت اړوو
مسافري پۀ يکه زار تيريږي

تش ترېنه نۀ ځي ارمانونه يوسي
رفيق چې تش جيب پۀ بازار تيريږي

****

www.pukhto.net

تلې خو دَ زړګي نه مې وتلې نۀ
تلۀ به رانه ساه زړګيه ولې نۀ

ما به څۀ بانه خندا له جوړه کړه
تا به دې غوټۍ شُونډې سپړدلې نۀ

اوس چې مې ګُلونه پۀ مزار شيندې
زُلفې دې پۀ ما ولې شيندلې نۀ

وينې به لۀ سترګو مې رواني شوې
ستا به هډو اُوښکې څڅېدلې نۀ

رابه غلم پتنګ دې سوزيدو له زۀ
ستا به شمعې سترګې بلېدلې نه

خوب مې تختېدلے دے دَ سترګو نۀ
خوب کښې مې رفيقه تۀ ليدلې نۀ

****

لکه ګُلونه مړاوي پۀ ډنډر کښې اُوسي
دغسې خلق نن سبا پۀ پېښور کښې اُوسي

زۀ دې دَ غم احسان منمه چې مې زړۀ له راغے
دَ محلونو نه راتېر شو پۀ کنډر کښې اُوسي

دیدن دې راوړه چې دَ زړۀ بې قراري ختمه شي
درد دې بیا خبر دے کۀ پۀ غېږه دَ پرهر کښې اُوسي

ما ورته شل ځله قصه دَ بې وسۍ کړې ده
هسې ارمان دے لېونے چې مې ځیګر کښې اُوسي

پُښتون به یو شي او کنه ، پښتون به څنګه یو شي
دغه سودا مې لۀ پخوا راسې پۀ سر کښې اُوسي

پهٔ اسویلي کښې هم زما دَ خُلې نه خېژي اکثر
لکه نامه چې دې زما دَ زړهٔ پهٔ وَر کښې اُوسي

سترګې مې دواړه ځکه ښکاري لکه بَلې ډیوې
رفیقه ستا سترګې مې هر وخت پهٔ نظر کښې اُوسي

****

## دوه شعرونه

ما درته قصه ټوله خندا خندا کښې تېره کړه
تهٔ ئې پهٔ ژړا کړلې خندا ئې درنه هېره کړه

رنګ دې خپله سُور دے بل دَ پاسه پرې سرخي یاره
تېل دې پرې وروا چوَل لمبه دې دَ اور ډېره کړه

****

داسې یم تور شوے لکه ښکاري چې لوَنګ سوے
بس یو غنم رنګ مې دے دَګُل پهٔ شانتې رنګ سوے

لږ دې هم پهٔ زړهٔ کښې تَرس نهٔ راځي ناترسه یې
یه ظالمې شمعې تا خو ټول عمر پتنګ سوے

څوک څهٔ لېوني دي چې دوزخ ته لهٔ جنته ځي
څهٔ وکړو وطن مو ګېر چاپېره ټول پهٔ جنګ سوے

اوس ورته هېڅ ستا دَ دیدنونو ضرورت نشته
خپل کچکول پخوا نه ستا کوڅه کښې ستا ملنګ سوے

دا به غلے غلے پُر اسراره درته ښکاري خو
داسې ورته مهٔ ګوره رفیق دې ځان پهٔ ننګ سوے

****

سړیکې دَ پرهر مې دَ ځیګر غبرګه کښې غلې کړه
بس پۀ خوشحالۍ کښې مې دَ غم ورځې بدلې کړه

تول دَ شوګیرو زور به مې نن لۀ خوبه وباسم
ستړے مسافر یمه اُودۀ مې پۀ ځنګلې کړه
ښخ مې خپل ارمان کړو دَ زړګي پۀ ادیره کښې نن
راشه دَ ثواب دپاره څو شمعې پرې بلې کړه
خبر دے کۀ زۀ مړشمه ، خپل خون مې دربخښلے دے
راوړه مې مړۍ له رانزدې سپینې منګلولې کړه
زور دې دَ ښائست دَ سرو لمبو نه شُو زغملے نور
زُلفې راخورې کړه پۀ مخ جوړې ترې ځنګلې کړه
ستا دَ محبت او دَ اخلاص څرګندونه ده
هاغسې پۀ مینه یو ځل بیا راته کنځلې کړه

تاله به ګلونه غُنچکونه پۀ کمڅو کښې ږدي
ګُل مینه پېرزو خو پۀ رفیق باندې دې ګلې کړه

****

بې لـه محبتـه دے نیمګـړے هـر سـړے
ځکه خو پۀ ژوند باندې دے ستَړے هر سړے

خلـق دَ یـو بـل نـه بـر ناحقـه دي وېـزار
بس دَ ځـان ځـانۍ فکرونـو وَړے هـر سـړے

لا س او پښې ئې وتړي سړے کړي پېزوانـي
وریشي پۀ دې ښارکښې داسې پَړے هر سړے

وخـت دَ پُښـتونخوا سیمه زپلـې دومـره ده
ښـکاري پـۀ ژونـدوني لکـه مَـړے هـر سـړے

بیـا بـه پـۀ زړګـو کښـې محبت شي رازرغـون
نـال چې کـړي پکـار ده دغـه زَړے هـر سـړے

ورکــه دې رفیقــه شــي دَ مــال دولــت نشــه
لـرې دَ یـو بـل نـه ئې دے کَـړے هـر سـړے

****

*

چا وې دَ مینې رنګ دے
سُور خو دَ وینې رنګ دے

خفه په تا پسې یم
زیړ مې شیرینې رنګ دے
مخ دې دَ واوړې په شان
سُور پکښې څنې رنګ دے
ته که اوس ډېرې کوې
خبرې سپینې ، رنګ دے
رنګ دې لۀ ځانه ښکلے
که ګُل ورینې ،رنګ دے

دا دې غزل رفیقه
که دَ حَسینې رنګ دے

****

* دَ آرمي پبلک سکول دَ واقعې پۀ تاثر کښې لیکلے شوے دے

پـهٔ قـدم قـدم غـورزېږم رانـه دم ځـي
چې وږمې پـهٔ ټولـه لار سـتا دَ قـدم ځـي

اوس ده ستاخوښه کهٔ تلهٔ او کهٔ راتلهٔ کړې
خو پهٔ تلو دې خوشحالي پهٔ راتلو غم ځي

کړلېچونـو کښـې دَ عقـل کلـه تلے شـي
لېـوني دَ عشـق پـهٔ لاره بانـدې سم ځـي

معشوقې لهٔ خو خپل مرګ خپله پکار دے
چې عاشق ترې بې نوا سترګې پُر نم ځي

ستا دَ سترګو خُمارونو تـه اوس ناست وي
ډېر ښهٔ شوے ، مېخانې تـه رفیق کم ځي

****

www.pukhto.net

زمـا دَ ګُـل جانـان خبـرې لمبـې
لکـه ناویاتـه ملغلـرې لمبـې

زمـا چینـار ځـواني ئـې وسـیزله
ستا دَ ښائسـت دي زورَورې لمبـې

یواځې ګُل خو پهٔ اور نهٔ دے سَتي
کـاڼي دي ، بـوټي هـم کمَـرې لمبـې

زما ګرېوان تـه دې لاس نهٔ رارسي
پـهٔ ما دې پـورې کـړې دَ لـرې لمبـې

کلـه نـا کلـه شـي بـاران دَ ګُلـو
کلـه مـې فـن سـره ملګـرې لمبـې

راځـي راځـي هـم دَ رفیـق پـهٔ لـورې
پهٔ رقیب پورې نهٔ شوې چرې لمبـې

****

پُښتونخوا زما جنت زما کشمیر دے
دَ سپیځلي باچا خان دَ خوب تعبیر دے

دا چې تل دَ غېر دَ لاسه قتل کیږي
نا اهلي دَ پښتنو ده کۀ تقدیر دے
کۀ هر څو پۀ زړۀ باچا دَ زماني یم
خوئ مې هاغسې ملګرو دَ فقیر دے
پۀ خپل حق باندې دَ سر او مال نه تېر یُو
دا وطن مو دَ خپل پلار نیکه جاګیر دے
دَ سپوږمۍ نه دَ ګُلونو نه، وږمو نه
تصور کښې مې جوړ کړے ستا تصویر دے
ښائستونه ئې دَ ځان پله راکاږي
اچولے ئې زما زړۀ ته زنځیر دے

پۀ خُلوص او محبت کښې ئې شک نشته
ستا رفیق کۀ پۀ لندن کښې دے لۀ دیر دے
****

سرۀ اورونه دي پۀ دواړه مخه بل دي
تور لوګي پري دَ خوارۀ وارۀ وربل دي

دَ انسان دَ لاسه ورانه هم ده سازه
فېصلې دَ اسمان تولې پۀ عمل دي

ما چې کله ستا پۀ لور سترګې نیولې
نو وینځلې مې پۀ اُوښکو کښې اول دي

دا تړون زمونږ اسان نۀ دے چې پرې شي
نګهتونه دَ ګُلونو بېلول دي

چې ئې اورم نو شعرونه ترې جوړېږي
سا خبرې تول پۀ توله دَ غزل دي

تۀ دَ یار زُلفو ته ولې خوشحالېږې
کۀ اوږدې دي خو رفیقه الول دي

****

چرته رانـه ورک شـولو کـاروان څـهٔ پتـه نـهٔ لګـي
پـاتې شـوم تنهـا پـهٔ بیابـان څـهٔ پتـه نـهٔ لګـي

مـا ورلـه پښـتون زړهٔ دَ لنـدن نـه بېرتـه راوړلـو
دې کلي کوڅو کښې دَ جانـان څـهٔ پتـه نـهٔ لګـي

سـترې پـهٔ مونځونـو، پـهٔ نفلونو، دُعاګـانو شـو
نـهٔ کیـږي پـهٔ دې سیمه بـاران څـهٔ پتـه نـهٔ لګـي

نـن سـبا انسـان انسـانیت نـه بهـر شـوے دے
نـن سـبا دَ چـا دَ دیـن ایمـان څـهٔ پتـه نـهٔ لګـي

زهٔ مې لېونتوب هم دَ جانان لهٔ غمه خلاص نهٔ کړم
لاس وهـم پـهٔ غـاړه دَ ګرېـوان څـهٔ پتـه نـهٔ لګـي

هسې نهٔ بې وخته دې دِ مرګ پهٔ خوب اُودهٔ کړي دا
واوره اے رفیقـه دَ ارمـان څـهٔ پتـه نـهٔ لګـي

****

www.pukhto.net

نهٔ پوهېږم چې څۀ چل ؤ پۀ ګُلاب کښې
پانې پانې ئې واپس کړو پۀ کتاب کښې

زمانه ئې پۀ مطلب کله پوهیږي
ما چې لوستي څۀ دَ عشَق پۀ نصاب کښې

دا مستي خو دَ ادم دَ طبیعت ده
ګنې دم پخپله نشته پۀ رباب کښې

عجیبه ده چې پۀ وچه ترې ساه خیژي
ګوره کب ته چې ساه اخلي پۀ دریاب کښې

تقوىٰ دار سړے لائق دَ فوقیت دے
نشته نور فرق غریب او پۀ نواب کښې

مُلا جانه دَ رفیق پښتنه دا ده
چې څۀ راز دے پۀ عذاب او پۀ ثواب کښې

****

دو مره سبوا شو دَ دوران غمونه
چې رانه هېرشو دَ جانان غمونه

ښائي مې تل هم تخیُل ته لارې
په مخکښې مخکښې ترې روان غمونه

نهٔ ئې څهٔ حل شته نهٔ ترې تېښته کېږي
چې راورېږي لهٔ اسمان غمونه

چینې دَ اُوښکو به مې وَچې نهٔ شي
لکه ورېږي چې باران غمونه

مانه به هېڅ کله خفه هم نهٔ شي
لکه ساتم به دې دَ ځان غمونه

ستا دَ رفیق وینه لا وچه نهٔ ده
لږ دې راپرېږده بندیوان غمونه

****

جانــان کــهٔ هــر څــو رانــه ځــان بېلــوي
ځــان بــه لــه مــا څنګــه جانــان بېلــوي

اصــــيله ښــــځه اتفـــــاق خوَښـــــوي
چـــې وي بـــد خويـــه خانـــدان بېلـــوي

ورور مـې پـهٔ ګټـه کښـې نـزدې شـي راتـه
خـو ځـان پـهٔ وخـت کښـې دَ تـاوان بېلـوي

ډېـر دَ مـــودو مـــودو تـــړون خـــتم شـــي
وخـــت دَ غمـــاز پـــهٔ شـــان يـــاران بېلـــوي

پـــهٔ مـــونږ اثـــر هـــېڅ نصـــيحت نـــهٔ کـــوي
مـــونږه بـــه څنګـــه ناصـــحان بېلـــوي

مـــونږ خـــو رفيقـــه پـــهٔ يـــو روح ژونـــدي يُـــو
مـــونږه بـــه څـــهٔ رنګـــې دوران بېلـــوي

****

واخله قسم،واخله وعده،واخله مې سر جانانه
راکړه دې لاس ښۀ پۀ اخلاص،راکړه ځیګر جانانه

وکړه باؤر زما پۀ مینه کښې هېڅ شک نشته دے
ما نه ئې ولې بر ناحقه مرور جانانه

دَ هغه بام هغه ګودر څۀ مزه پاتې نۀ شوه
نشته بې تانه هېڅ څۀ خوند دَ مازیګر جانانه

چرته خو راشه تۀ ښائست دَ پُښتونخوا وګوره
دَ ملاکنډ نه تر بولانه تر خیبر جانانه

رفیق تر اوسه ستا پۀ غم کښې شوګیرې کوي لا
کړي پۀ ژړا ژړا شپه رڼه تر سحر جانانه

****

ستا پۀ نوم چې مړ شمه ژوندے به شم
مرګ له به مرګ راولم مرګے به شم

ستا دَ ژوندون دشتې به ګُلزار کړمه
ګُل به شم ، نسیم به شم ، سپرلے به شم

پام کوه دَ زړۀ نه مې بهر نۀ شې
یه دَ جانان غمه لېونے به شم

تا خو زۀ دَ خپل ځان نه هم خپل ګڼم
خپل خپلوان کۀ پرېږدمه پردے به شم

یواځې پۀ رفیق باندې کار کېږي نۀ
جوړ چې مې رقیب شي ځوک سړے به شم

****

خلقو خبنلي نۀ دي تیندکونه خوري
تا ته پۀ کاتۀ دي تیندکونه خوري

ستا دَ کتو تاب دلته څوک نۀ لري
ټول مئین ړاندۀ دي تیندکونه خوري

شیخ پۀ سمه لار باندې تلے نۀ شي
خبنلي جوړې دۀ دي تیندکونه خوري

یا خو څوک عاشق دے یا ساقي به وي
سرۀ چې ئې لېمۀ دي تیندکونه خوري

ببرته ځي رفیق دَ یار دَ کلي نه
کړي ئې پرې څۀ دي تیندکونه خوري

****

بې نیازه ، بې پرواه نازک بدن نه مزې اخلي
خالونه ئې دَ حُسن دَ ژوبن نه مزې اخلي

دَ ګُل او دَ شبنم رشته محدوده تر لمحو وي
ازغي دَ ګُل تر عمره دَ دیدن نه مزې اخلي

زمونږ په خولو ، وینو ، هېوادونه نور اباد شو
خوش بخته دي هغه چې دَ وطن نه مزې اخلي

ناپوهه په سبا سبا کښې لاس دَ ژوند نه وینځي
هوښیار دي هغه خلق چې دَ نن نه مزې اخلي

اودهٔ شي کله ویخ شي یار ، رفیق ئې تماشه کړي
دَ ستورو سترګو انجمن نه مزې اخلي

****

ځان ئې کړو پردے کلي ته نۀ راځي
مالـه مې زړګے کلي تـه نـۀ راځـي

سـتا دَ نـۀ راتلـو ئـې اوربـدلي دي
ځکـه خو سـپرلے کلـي تـه نـۀ راځـي

دا لارې کـوڅې چـې پـرې ابـادې وې
هاغـه لېـونے کلـي تــه نــۀ راځــي

غـم او دَ جانـان خپلـو کښـې نـۀ لګـي
ځکـه خـو يـو ځـے*کلـي تـه نـۀ راځـي

يو ځل چې ئې ژوند دَ ښار پۀ مخه کړي
بېرتـه بيـا سـړے کلـي تـه نـۀ راځـي

چرتـه هـم رفيـق دَ نرخـه نـۀ ووځـي
شـولو کـۀ ښـارے کلـي تـه نـۀ راځـي

****

* ځے ------ ځائے

جوړ شي پرې داغونه دَ نفرت سره
پاک شي دَ سړي زړهٔ محبت سره

ټوله مینه مینه شومه ، مینه شوم
ستا دَ خوږې مینې برکت سره

ژبه مې خاموشه خوزېدله نهٔ
اوښکې مې راتوئې شوې دَ رُخصت سره

ژوند کښې ارمانونه پوره کېږي نهٔ
شُکر دے تېرېږي پهٔ عزت سره

لوَږه کهٔ تنده دا به تېره شي
څهٔ به کوؤ هلته اخرت سره

مخکښې مې رفیقه گُزاره کېده
اوس راته یادېږي پهٔ شدت سره

****

خبـر کـۀ مـې دَ اُوښـکو پـۀ بـاران وربڅېـدۀ
ښـۀ ده خـو چـې سـتا دَ زړۀ ارمـان وربڅېـدۀ

سـتا دَ بـې رُخـۍ دَ پېرزۈنـې لـۀ اثـره
ګُـل رانـه سـپرلي کښـې پـۀ ایمـان وربڅېـدۀ

دې باندې هم نۀ یم چې مې ځائے پۀ زمکه ورک شو
بـره هـم زمـا حصـه اسـمان وربڅېـدۀ

ورو ورو وده وکـړه منکرینـو پـۀ دُنیـا کښـې
ورو ورو ګېـر چـا پېره مُسـلمان وربڅېـدۀ

داسـې مـې ده لنـډه دَ ښائسـت قصـه رفیقـه
ګُـل ؤ بـس دَ عِشَـق پـۀ طوفـان وربڅېـدۀ

****

وینه ئې جوش وهي غورځنګ خو کوي
پښتون هغه دے چې څۀ ننګ خو کوي

شېخه بې عیبه فرښته وي مُدام
زړۀ دَ انسان دے اخر زنګ خو کوي
زور دې دَ لاسو پښتنو ختم شو
بنګړي وروا چوه چې شړنګ خو کوي
پۀ ډېرو مړو سترګو مې سود نۀ کیږي
زما ژوندۍ خوښې وي جنګ خو کوي
قُربان قُربان دَ پښتنې خاورې نه
کۀ نور څۀ نۀ وي راله بنګ خو کوي
زما قاتل دَ پتېدو خو نۀ دے
دا غېرتې وینه به رنګ خو کوي

تۀ مې دَ مینې لونګین رفیقه
خوند مې پۀ غاړه کښې لونګ خو کوي

****

نسیم چې پهٔ سندرو شي سحر چپه چپه کښې
پهٔ ما کښې هم مستي راشي نشه نشه وږمه کښې

ما تاته درپهٔ سر کړه لوپټه دَ حیاګانو
تهٔ ما ته اوس ګُل کېږده خو دَ مینې پهٔ شمله کښې

بیا نور هم بې قراره شم چې جام دَ میو وڅښم
دا زهٔ څومره ساده یم سکون ګورم مېخانه کښې

څنګه به دیدن ستا دَ بڼو دَلاسه وکړي څوک
بس دا لکه ساتلي چې دې غشي وي لینده کښې

رفیقه ستا شعرونه خو تش توري نهٔ دي ، خیال دے
بس دا لکه دریاب چې سړے بند کړي پهٔ کوزه کښې

****

چې دَ رقیب سره مې خوا کښې لاس نیولے واؤړي
دَ دې نـه ښـۀ ده چې پـۀ مـا دَ خـاورو ښلے واؤړي

زما پـۀ ټول کلي کښې سترګې هم پـۀ تـا خوږېږي
کـۀ دَ ښائسـت نـه هـم پـۀ بلـه بانـدې کلے واؤړي

ستا دَ راتلـو زيـرے دَ څـان سـره سپرلي راوَلـي
څکه خو ګُل شم رنګ مې سُور شي ښکلے ښکلے واؤړي

ستا خو لۀ بام دَ کوزیدو نه پس منظر داسې شي
لکـه چې نمر دَ غـره پـۀ څوکـه بانـدې غلے واؤړي

ستا دَ ښائسـت نشـه خـو سم پـۀ رفيـق سر ګرڅـوي
نشـه نشـه دې پـۀ کوڅـه کښـې څنګېـدلے واؤړي

****

لکـه کلـی وه خورېدلـه ګُـل شـوه
چـې مُسـېدله مُسـېدله ګُـل شـوه

ستا خـو وعـده وه لکـه شـنډه ونـه
خـو ټوکېدلـه غوړېدلـه ګُـل شـوه

چې خپلـه "ځانګـه" پکښـې ونـۀ ویـنم
خدایه سپرلي کښې ځانګه ځله ګُل شوه

تـا کـۀ یـوه کړلـه غُربتـه سـتي
هلتـه غـوټی دَ ارمـان بلـه ګُـل شـوه

دَ اُوښـکو څـاڅکو سـره وَټوکېـده
چې مې دُعـا کلـه غوښتله ګُـل شـوه

رفیقـه زۀ یـم سـتا ځـوانی تـه حېـران
پـۀ غریبی کښـې سوزېدله ګُـل شـوه

****

دَ ښار خلق خو پرېږده چې سړے نۀ پېژني
پۀ کلي کښې اوس خلق خپل پردے نۀ پېژني

کله چې دننه دې موسم دَ زړګي نۀ وي ښۀ
قسم دے بیا سړے هډو سپرلے نۀ پېژني

ټوله ښاریه کښې لېوني باندې یادیږي خو
جانان دَ خپلې مینې لېونے نۀ پېژني

یو خوا پۀ حُجره کښې ټنګ کور اوس دَ زلمو نشته
بل پېغلې هم ګُودر او هم منګے نۀ پېژني

ستا قدر به رفیقه پس لۀ مرګه بیا پېدا شي
خبر دلته خپل شاعر خلق ژوندے نۀ پېژني

****

ارمانونــه چرتــه چــا دي پــوره کَــړي
پــاتې کیــږي هــم پــۀ دې دُنیــا نیمګــړي

هــر ژونــد ے دَ اُمېــدونو پــۀ زور پــائي
هــر یــو مَــړي ارمانونــه پــۀ زړۀ وَړي

دومره ډېره ځان ځاني شوه پۀ دُنیا کښې
هر سړے هم ځان له خپل غمونه شَړي

ځنې خلق پس لۀ مرګه هم ژوندي وي
ځۀ ژونـدي وي پـۀ مثـال لکـه دَ مَـړي

لېـونے پــۀ دې ارمــان شــومه رفیقــه
لېـونی بـه مـې پـۀ زُلفـو بانـدې تَـړي

****

تا چې زما نه ځان راتهول کړلو جانانه ښۀ ده
ما له صحرا دَ فریبونو دَ دُنیا نه ښۀ ده

چا دې تپوس کوو زما نه ،وې دَ چا پۀ شان ده
ما وئیل دَ چا خبره پرېږده دَ هر چا نه ښۀ ده

ستا کۀ دَ اُوښکو مطلب دا وي چې بیا نشته دیدن
بیا خو سوکړه دَ تندرونو لۀ بارانه ښۀ ده

دَهوښيارتوب ګټه تاوان پرې سړے پوهه نۀ کړي
مينـه خـو ټـول پـۀ ټولـه ګټـه ده ، نادانـه ښـۀ ده

دَ خُود غرضه يار پۀ روغـه کښې تـاوان وي مُدام
دَ ځنــې ځنــې دلَــه ګــانو ســره ورانــه ښــۀ ده

خُدايـه چې څوک ودانوي دُنيـا ودان ئې سـاتۀ
دَ ورانونکـو برخـه ټـول عمـر هـم ورانـه ښـۀ ده

هلتـه جنت او دُوزخ دواړه پـۀ انصـاف سره دي
هغــه دُنيــا درلــه دَ دې نــه مُســلمانه ښــۀ ده

بيـا بـه رقيـب هـم ځـان دَ مينـې لېـونے ګڼلـو
سـودا دَ عشَـق هـم رفيقـه داسـې ګرانـه ښـۀ ده

****

وَچې ئې دي شُونډې لکه مړاوے ګُل
خدایه چې ټول عمر پۀ خندا وے ګُل

خلقو کۀ کَرلے پۀ هر خوا وے ګُل
بیا به ګېر چاپېره پښتونخوا وے ګُل

تاله مې رُخسار پۀ وینه ګُل کړه خو
کاش کۀ هم راکړے راله تا وے ګُل

تا کۀ لوظ نۀ وے دَ راتلو کړے
ولې دواړه سترګې به زما وے ګُل

نۀ وے رژولے کۀ سیلۍ طوفان*
دا وړې کلۍ به هم سبا وے ګُل

جنګ کۀ دَ رفیق او دَ رقیب نۀ وے
دواړه دَ یو بل نه به سېوا وے ګُل

****

* دَ ارمي پبلک سکول وړو ماشومانو ته اشاره ده
چې پۀ ۲۰۱۴ کښې پۀ سکول کښې شهیدان شو -

شــور لکــه دَ مــاتې ائینــې راځــي
درز مې دَ زړګي نـه تـر سینې راځي

سترګې راله یخې کړي دیدن دَ یار
ترمې ترمې اوښکې لۀ چینې راځي

داسې به بُلبُل پۀ چغو سر نۀ وے
دغــه دَ ښائســت سـره فتنــې راځــي

څُوي به خامخا دَ زړۀ پـولۍ مې اوس
تَق به هم پۀ بتې کښې دَ نینې راځي

کېنــې چــې خبـرې نـن دَ چـا واورې
بـوئ ترېنـه رفیقـه دَ کِینـې راځـي

****

پۀ محبت کښې خفګان وژني سړے
قسم پۀ خدائ چې هجران وژني سړے

کله نا کله شي اُمید دَ ژوندون
کله نا کله ارمان وژني سړے

مینه خو ژوند مینه ښکلا دَ ژوندون
چې بې وفا شي جانان وژني سړے

پۀ زنکدن کښې پۀ ژوندون پسې مري
خو چې ژوند ے وي نو ځان وژني سړے

مینــــه خـــو ده هـــم دَ ســـرونو بـــازي
دې کښې خو هر يو تـاوان وژني سړے

ځـومره هوښـيار دي سـتا يادونـه يـاره
ځنګـه پـۀ زار او قُربـان وژنـي سـړے

لکــه دَ شــمعې غونــدې ځــان بلــوي
دَ پتنګــانو پـــۀ شــان وژنــي ســـړے

لکــه غورځنــګ دَ اباسـين دے رفيــق
چپـــې چپــې دے روان وژنـــي ســـړے

****

ژوند لکه سوَرلي ده بې مُهار څۀ پته نۀ لګي
مرګ ته ځان ساته هر وخت تیار څۀ پته نۀ لګي

کَړے ئې اقرار دے خو دَ یار څۀ پته نۀ لګي
چرته راته ونۀ کړي انکار څۀ پته نۀ لګي

هر ځائے پۀ جلسه کښې راهنما دَ ځان صفت کوي
ډېرې کړي خبرې خو دَ کار څۀ پته نۀ لګي

وَچې شُونډې راغلو تاله وچې شُونډې بېرته ځو
نن پکښې ساقي زمونږ دَ وار څۀ پته نۀ لګي

هر سړي څادر دَ شرافت پۀ ځان خورکړے دے
څوک دے بې ګناه څوک ګنهګار څۀ پته نۀ لګي

ځان ساته رفیقه دَ رقیب دَ یارانې نه تۀ
تک به درله درکړي یار دَ مار څۀ پته نۀ لګي

****

مۀ پُوښتی چې چرته دے ، یارخو زما زړۀ کښې دے
وَر مې دَ زړۀ ببرته دے ، یارخو زما زړۀ کښې دے

ځم پسې کعبې ته زۀ کله مېخانې ته زۀ
خیال دې ، دې هنر ته دے ، یارخو زما زړۀ کښې دے

سم ئې لېونے کړمه، سِحر او جادو دَ عشق
بیا مې خَتے سر ته دے ، یارخوز ما زړۀ کښې دے

زۀ دَ ملاکنډ پۀ سر چا ته منتظر یمه
تلے پېښور ته دے ، یارخو زما زړۀ کښې دے

ښکاري چې رفیقه نن ، خوب زما دَ سترګو نه
بیا تلے سحر ته دے ، یارخو زما زړۀ کښې دے

****

ستا دَ کتو مې ځان کښې تاب راوَړے
مرګ لۀ مې ښکُلے انتخاب راوَړے

مُنکر دَ دې تقدس څۀ پېژني
ما چې ایمان پۀ کوم کتاب راوَړے

پرواه مې نشته کۀ مې لاس شو زخمي
ځکه چې تا له مې ګُلاب راوَړے

الله دې خېر کړي زړۀ مې ډېر درزیږي
چې مې رېبار څۀ سوال جواب راوَړے

ستا دَ لېمو پۀ سمندر کښې ډوب شو
ورته رفیق دَ عشق سېلاب راوَړے

****

دَ زړۀ طوطي رانه شکَرې غواړي
دَ یار خوَږې خوَږې خبرې غواړي

پۀ مات ځانګونو الوتۀ نۀ کیږي
کلکې دَ باز غوندې وزرې غواړي

دَخپل اُولس پۀ غم کښې ساندې لیکم
ګنې مزاج خو مې سندَرې غواړي

خوَرو دانو ته ځوک امېل نۀ وائي
پېرل پۀ تار کښې ملغرې غواړي

پۀ ځار قُربان مسئله حل نۀ شوله
پُښتنو جنګ غواړي ،لښکرې غواړي

رفیقه خامخا قبلیږي دُعا
خو زړونه پاک او سترګې تَرې غواړي

****

کَږه لار دي پـهٔ زُلفـو کښې جانانـه ده ویسـتلې
دا مـونږ تـه دې چل جوړ کړو کـهٔ دې ورانـه ده ویسـتلې

زوَړنده،نسکوره، مړاوې ،پهٔ ډنډر کښې وي
حـالاتو اوس کلـۍ هـم دَ مُسـکا نـه ده ویسـتلې
مـونږه پُښـتنو تـه هـیڅ دَ کړښـې ضـرورت نشـته
دا چا پکښې بس هسې دَ خپل ځانه ده ویستلې
خدایه پُښتون قام مې بې ګناه پهٔ وینو سُور ولې
دا چغـه مـې لـهٔ درده لـهٔ ارمانـه ده ویسـتلې
مـهٔ وایـۍ چـې لاړه حیـا ورکـه پُښـتنو نـه شـوه
اے دا خـو مـو پخپلـه پُښـتونخوا نـه ده ویسـتلې
دَ ژمې اوږده شپه مو بس دَ یو بل نه خفګان کښې
هـم داسـې تـر سـحره دَ بېګـا نـه ده ویسـتلې

هـیڅ ئـې ضـرورت نشـته پـهٔ دار دَ خېژولـو اوس
بس ساه خودَ رفیق نه غم پخوا نه ده ویستلې

****

www.pukhto.net

ډېره پۀ خیالونو کښې به تله راتله
زړۀ ته مې راکوزه شوه راتله راتله

ستا نه به سپوږمۍ هم شرمېده راتله
پته پۀ وریځو کښې به شوه راتله

مینه ښکارېده لکه غُنچه دَ ګُل
جوړه ترېنه ما ته شوه لمبه راتله

ورک دې لېونے ومه پۀ زُلفو کښې
هېڅ پرواه مې نۀ وه چې به شپه راتله

خوند به مو رفیقه دَ ژوندون ؤ ډېر
کله به زۀ تلم کله هغه راتله

****

خزان وي کۀ سپرلے پۀ هر موسم تر و تازه
زخمونه دَ زړګي مې وي هر دم تر و تازه

ستا پۀ رُخسارونو مې لېمۀ دَ شپې وریږي
سحر کښې وي ګُل پاڼې پۀ شبنم تر و تازه

څۀ کومه ستا دغه دَ مخ ملازې اوښکې
ساتي مې پُښتنې سترګې خپل نم تر و تازه

دا ځکه خو زۀ نۀ کووم ارمان دَ سوکالۍ
زړګے مې وي زړګیه ستا پۀ غم تر و تازه

تا جوړې نن بیا دَ یار دیدن کړے رفیقه
دا ځکه خو نن ښکارې دا سې سم تر و تازه

****

کۀ ځې نو چرته به ځې پۀ کومه لاره به ځې
غمه زما دَ زړۀ نه ، کۀ ځې بې یاره به ځې

وفا دې منمه بیا ، درته ګُلونه شیندم
پۀ سرو سکروَټو باندې ، تر هاغه ښاره به ځې

تۀ چې خدائ نۀ یادوې ، سکون به بیا نۀ مومې
خفه دَ کوره سحر ، ستړے دَ کاره به ځې

بهر تۀ ووتلې ، اوښکې رسوا دې کړمه
ځنګه لېمو ته بېرته ، لۀ دې رُخساره به ځې

لا لویه ورځ پرته ده ، څومره پۀ منډه ئې تۀ
ښۀ پۀ قلاره کېنه ، بیا پۀ قلاره به ځې

هسې بانې کوې تۀ ،نور ئې دَ زړۀ نه مجبور
رفیقه تا پېژنم ، دَ چا دپاره به ځې

****

راغلـه ټـول محفـل تـه ئـې رڼـا ورکـړه
خلقو کښې ساه راغله شمعې ساه ورکړه

زړۀ مــې ســتا د یــاد ســره ملګــرے ؤ
تــا ورلــه دَکــوم جُــرم سـزا ورکــړه

شیخ ئې هم قائل شو اخر وئې وئېل
مینــې لــه فتــوىٰ دَ کُفــر چــا ورکــړه

څنګــه بــه پیشــو دَ پَیــو صــبر شــي
زړۀ دې هـم انسـان لـه هـم دُنیـا ورکـړه

خلقو دې خُلې خُلې کړلو رفیق هسې
خُلـۀ دې هـم حرامـه وي کـۀ تـا ورکـړه

****

www.pukhto.net

زړۀ وائي پۀ عِشَق کښې تاوان ښۀ وي
عقل وائي سر ولې قُربان ښۀ وي

ښۀ ده ، پۀ اُمېد به ئې تېرېږي ژوند
پاتې پۀ دې زړۀ يو نيم ارمان ښۀ وي

اوښکې چې بهيږي نو نرميږي زړۀ
زمکه رازرغونه شي ، باران ښۀ وي

درد او هم احساس پکښې پېدا شي بيا
زړۀ له خو دَ عِشَق يو طوفان ښۀ وي

يار ووې چې څنګ ښۀ وي رفيق دَ ژوند
ما ووې بيخي هم ستا پۀ شان ښۀ وي

****

اخـر ګـذار کـړي لـۀ ګړنګـه سـړے
غـرور تبـاه کـړي ګـوره ښنګـه سـړے

بـس چـې دَ سـترګو وي دَ سـترګو سـره
سـتړے بـه نـۀ شي بيـا لـۀ جنګـه سـړے

دَ قربـــانۍ متقاضـــي ده مينـــه
سـبق دې واخلـي لـۀ پتنګـه سـړے

کۀ دي رقيب هم وي چې ننګ وي پکښې
سـړے بې ننګـه کړي بې ننګـه سـړے

بـل چـې پـۀ دې لويـه دُنيـا تنګـوي
هسـې دُنيـا کـړي پـۀ ځـان تنګـه سـړے

دَ تماشـې نـه ئـې خوندونـه اخلـي
دَ اباسـين دَ هـر غورځنګـه سـړے

پـۀ موسـونو کښـې رنـګ نـۀ بـدلوي
زمـا رفيـق دے غـنم رنګـه سـړے

****

خوند کۀ ئې ښائست دَ ګُل پۀ شان کوي
خوئ خو دَ ازغو غوندې جانان کوي

څوک چې هم پۀ بل غلط ګُمان کوي
برناحقه زیان دَ خپل ایمان کوي

چا ته خپل قسمت راټوکوي ازغي
چا باندې دَ سرو ګُلو باران کوي

راشي دَ رقیب سره زما پۀ لور
هم راباندې ظلم هم احسان کوي

حال کښې دَ ماضي نه عبرت نۀ اخلي
هسې ورپسې سړے ارمان کوي

ګټه پکښې چا رفیقه کړې ده
عشق کښې خو اکثر سړے تاوان کوي

****

اړوي رقیب څومره پۀ چل سترګې
چرته خطا کیږي نۀ دَ غل سترګې

کله مې خوَږې نۀ شوې پۀ بل سترګې
ما چې دې لیدلي دي یو ځل سترګې

څۀ بـه بې دیدنه پسرلي کړمه
تاله اننګي کړي ،ما له ګُل سترګې

سترګې دَ اولس دَ اُوښکو ډکې دي
څۀ به کړم خُمار خُمار غزل سترګې

رابه شي پۀ کار به دې پردي خلق
اړوي مُدام به درنه خپل سترګې

ځان ته کړه رفیقه سپېلني لوګے
بیا درپسې شوي دَ محفل سترګې

****

www.pukhto.net

بيــا پــۀ تولــه لار يمــه روان ولاړ
ياد مې دے پۀ زړۀ کښې دَ جانان ولاړ

نــن چــې مخــامخ شــو دَ يــو بــل ســره
دواړه وو بــس يــو بــل تــه حېــران ولاړ

خدائېګو ځناور به ترېنه ډېر ښۀ وي
نــن پــۀ کــوم ډګــر چــې دے انســان ولاړ

چرتــه چــې يتــيم پــۀ لار کښــې وينمــه
ښکاري مې يتيم غوندې ارمان ولاړ

ما ته خو هېڅ فرق پکښې ښکاري نۀ
سر تــه مــې قاتــل دے کۀ درمان ولاړ

www.pukhto.net

نور به درته څۀ وایم چې څۀ مې یې
تۀ مې ئې پۀ سر لکه اسمان ولاړ

ښکاري چې رفیق دې راځي کلي ته
دا چې ځائے پۀ ځائے دي رقیبان ولاړ

****

# قطعه

راځه چې دَ رقیب مخکښې شراب دَ مینې ښۀ وڅښو
پربږده چې ګوټونه دَ خوږو زهرو پۀ دۀ وڅښو

مونږ له کړي راڼه زړونه ، ذهنونه او روحونه هم
مونږه غرځنې چې دَ صفا چینو اُوبۀ وڅښو

****

اور شــو زوروَر ګــوره اُوبــو بانــدې
اُوښکې ئې شوې وَچې اننګو باندې

څهٔ پُوښتې لهٔ ما نه دَ هجران ورځې
وخت ؤ چې بس تېر شو پهٔ لمبو باندې

نيم اسلام مني او نيمه خپله کړي
ځکــه خــو زوال دے پُښــتنو بانــدې

تــول عمــر مــزل دے دَ منــزل پــهٔ لــور
جوړې مې تنهاکې شولې پښو باندې

دا سې دې رفيــق پــهٔ غــم مئين يمــه
زړهٔ چې ځنګ خُوربیږي پهٔ بچو باندې

****

ګُل سیزي ازغي سیزي
حُسن دې سپرلي سیزي

ستا دَ پېغلتوب نه ځار
خنګه مې ځواني سیزي

ما دَ زُلفو سیوري ته
ستا دَ مخ ګرمي سیزي

شُونډې دې اورونه دي
شُونډې مې بېخي سیزي

لاس زما پۀ سر مۀ ږده
خلقو له تندي سیزي

مـخ تــه دې کــتے نــۀ شــم
مــا دې اننګــي ســيزي

ستا دَ مینې اور څۀ دے
خدائېګو چې زړګي سيزي

بیــا رانــه خفــه شــوله
بیا پـۀ اور بنګړي سيزي

نمــر دَ مــازیګر لکــه
ځي چې مانښامي سيزي

خپل مې ورته چل ښائي
کـور رالـه پـردي سـيزي

ســتا دا لېــوني کاتــۀ
مــونږه لېــوني ســيزي

عشَــق دَ رفیــق دَ یــار
رنـګ دَ یوسـفزي سـيزي

****

لکه غر سره دَ غر یو ځائے کېدل دي
زمونږ داسې دَ نظر یو ځائے کېدل دي

داسې ما او دَ دلبر یو ځائے کېدل دي
غاړې دوه دَ سمندر یو ځائے کېدل دي

دَ قیامت نخښې ئې وګڼه که یو شو
دَسپوږمۍ سره دَ نمر یو ځائے کېدل دي

هېڅ امکان نشته زمونږ چې دواړه یو شو
مازیګر سره سحر یو ځائے کېدل دي

پۀ دُنیا به لۀ هیبته زلزله شي
بس پُښتون دَ لر او بر یو ځائے کېدل دي

بس پۀ دې باندې هم شُکر دے رفیقه
چې پۀ یو او بل اختر یو ځائے کېدل دي

****

www.pukhto.net

بې پـرواه لـۀ دي دُنیـا پـۀ هر څـۀ شـتـۀ ؤم
ستـا دَ زُلفـو پـۀ یـخ سـیوري بـه اُودۀ ؤم

زۀ خو ستا پـۀ دُعاګـانو باندي رنـګ یـم
مـورې بې لـۀ تـا نـه څـۀ یـم زۀ بـه څـۀ ؤم

خدایـه سـتـا مهربـاني ده چې زۀ شـتـۀ یـم
کـۀ دَ چـا دَ وَسـه وے نـو زۀ بـه نـۀ ؤم

زړۀ مې ډېر کېدو پۀ زړۀ کښې مې ډېر څۀ وو
ستا پـۀ مخ کښې هسې غلے ؤم بې زړۀ ؤم

تۀ خو نۀ وې تۀ سپین باز وې بې ګناه وې
زۀ رفیـق ؤم دَ دُنیـا سـترګو کښې زۀ ؤم

****

کله چې جُوته دي دَ خُلې وخښمه
زۀ لکه دَ مَیو کاڅې وخښمه

بیا دَ عبادت مزه لا ډیره شي
کله چې جامونه دَ شپې وخښمه

شیخ وائي توبه وړپسې وباسم
لاړ شم څو کاسې دَ مزې وخښمه

تنده دَ دیدن کله ختمیږي نۀ
زۀ کۀ ډک سیندونه ، ولې وخښمه

خوند کوي رفیقه چې مدهوشه یم
جام چې دَ دیدن وړپسې وخښمه

****

نن چې دې لېلى پۀ سپين جيبن خالونه شنۀ کېښو
زړ مې وار خطا غوندې لاسونه پۀ خپل زړۀ کېښو

تا زما پۀ سر باندې دَ مينې لاس هم را نۀ ښکو
ما خو درته ياره پۀ قدم قدم لېمۀ کېښو

ما خودَ رُخصت پۀ وخت کښې زړۀ له تسلي ورکړه
بيا دې پرې داغونه ولې ببرته پۀ کاتۀ کېښو

هر ماليار حېران دے دې ترتيب او دې هُنر ته ستا
ګُلې تاګُلونه پۀ قطار کمڅو کښې څۀ کېښو

پوهه شوم رفيقه چې اقرار ولې کوے نۀ شې
تا جوړې دَ وچو ډکو لاندې بيا لواندۀ کېښو

****

ځـي پـۀ خپلـه مخـه شـا تـه نـۀ ګـوري
وخـت څـۀ بې پـرواه دے چـا تـه نـۀ ګـوري

مـا تـه ګُوتـه نیسـې خلـق ګـرَم کـړي مـا
څـوک هـم دَ جانـان ښـکلا تـه نـۀ ګـوري

زۀ چـې ورتـه نـۀ ګـورم نـو ګـوري يـار
زۀ چـې ورتـه ګـورم ، مـا تـه نـۀ ګـوري

ورک کړه داسې دوست،دښُمن ترې ډېر ښۀ وي
سـتا چـې ضـرورت شـي،تا تـه نـۀ ګـوري

مـور پـۀ دیـدنونو دې رفیـق سـاته
دې کښـې څـوک بېګـا سبا تـه نـۀ ګـوري

****

پوهـه پـۀ خـوږو شـومه ایلـه دَ ژونـد
مینـه مـې شـوه ټولـه وسـیله دَ ژونـد

بـار پـرې ارمانونـه دې بې شـمېره خو
ځـي پـۀ خپلـه مخـه قافلـه دَ ژونـد

بس سحر ماښام شي ستا یادونه وي
داسـې ده روانـه سلسـله دَ ژونـد

ژوند زما او سـتا بـه ختم شـوے وي
کلـه چـې ختمیـږي فاصـله دَ ژونـد

ځان پکښې ورک شوے دَ هر چا نه دے
دلتـه لګېـدلې ده مېلـه دَ ژونـد

نشـته دبدبـه اوس دَ هغـه سـړي
وه چـې ئـې رفیقـه واوېلـه دَ ژونـد

****

حالات ګورے جوړشوي اوس توبې ته شُو
شېخان هم وروان چې مېکدې ته شُو

پۀ عشق کښې دے دَ سر دَ قُربانۍ منظر
راټول چې پتنګان بَلې ډیوې ته شُو

څۀ داسې مې زړګے پۀ اُوښکو وتره شُو
چې جوړ مې پرهرونه کروَندې ته شُو

نه مینه ،ورور ولي شته ،نۀ یاري دوستي
دا مونږه پاتې کومې زمانې ته شو

رفیق کله دَ خپلې نظریې خوَزي
کۀ دې طرف ته خلق کۀ هغې ته شُو

****

دَ ګُل پـه پـاڼو پرخـه لـهٔ اسـمانه راوريږي
کهٔ اُوښکې پهٔ رُخسار دې لهٔ خفګانه راوريږي

پهٔ ما چې وجداني کېفيات کله راخوارهٔ شي
نو بيا راباندې شعر بس لهٔ ځانه راوريږي

دا زه پهٔ ځان ګڼمه دَ سرو ګُلو ګُزارونه
دا کاڼي چې پهٔ ما مې لهٔ جانانه راوريږي

زما دَ زړهٔ وېرانه ستا پهٔ يادو اباديږي
باران لکه چې للمه کړي ودانه راوريږي

زما خو ژوند رفيقه ستا پهٔ ياد باندې تيريږي
پهٔ ما باندې خدائ ډېر کړو مهربانه راوريږي

****

www.pukhto.net

ولـــې پـــهٔ بـــل خبـــرې خپلـــې کـــوې
تــهٔ ئــې پـخپلــه خــومره ښــکلې کــوې

ټــولې خبــرې دې څرګنــد لــهٔ ســترګو
کهٔ ئې پهٔ خپل زړګي کښې غَلې کوې

چې پتنګان دې پهٔ لمبو کښې سوزي
شــمعې نــو داســې رڼــا ولــې کــوې

نــهٔ بــه ســاه اخلــم ،نــهٔ لېمــهٔ رپــووم
چــې مــې خوبونــه پــهٔ څنګلــې کــوې

رفیقــه ســتا پـــهٔ مجبــورۍ ژړېــږم
پـهٔ شـا کاتـهٔ پـهٔ مخکښـې زغلې کوې

****

هلٍهو سمے نۀ خُوري يو کار دَ سړي
سړے چې ووهي ازار دَ سړي

داسې دولت داسې شهرت څۀ کووم
چې شي عزت پکښې تار تار دَ سړي

نن سبا دوست دے لۀ دُښمنه بدتر
نۀ کيږي چا باندې اعتبار دَ سړي

لمحه لمحه لکه دَ کال شي اوږده
سړے کوي چې انتظار دَ سړي

مینه منم چې ځان لۀ کار دي کتل
خو نۀ وي ځان باندې اختیار دَ سړي

حال ئې رفیقه دَ وئېلو نۀ وي
چې بې وفا شي کله یار دَ سړي

****

کۀ مې دَ مخ رنګ داسې زېړ او الوتلے ښکاري
جانان مې ګُل کړو ورته ګوره څومره ښکلے ښکاري

دَ ملاکنډ پۀ سر چې واؤړې بره دېر ته ګورې
دَ دغه غرونو نه ور اخوا زمونږ کلے ښکاري

سترګې مې سوَزي زړۀ اور کوي پوهېږمه ښۀ
دَ سترګو تور دَ زړۀ ټکور مې چرته تلے ښکاري

سترګې ئې دومره زوروَرې دي شور شر جوړوي
څومره چې بندې شُونډې ناست وي غلے غلے ښکاري

عشَق اخستے یم رفیقه پۀ ځان نۀ پوهیږم
دَ زړۀ سېلاب مې نن مازغو ته راختلے ښکاري

****

مـل چـې وي رقیـب سـره جانـان زمـا
چرتـه بـه پُـوره نـۀ شـي ارمـان زمـا

څۀ خبـر ئـې یـاره څـومره خوَنـد کـوي
ستا پۀ سرو لاسونو کښې ګرېوان زما

ستـا نامـه چې واؤرم دَ رقیـب دَ خُلـې
خدائېګو چې تـازه شي هم ایمـان زمـا

غېر چې مې دَ زمکې واکداري کوي
شین بـه وي پۀ سر بانـدې اسمان زمـا

یـو خـوا دَ الله پـۀ ذات یقـین لـرم
بــل خـوا پېغمبـر زمـا قـرأن زمـا

زۀ نــۀ فــرنګے نــۀ پنجــابے یمــه
زۀ پُښــتون رفیــق یمــه افغــان زمــا

****

زما دَ خیال نه دې خال چرته ووځي
زړۀ لېـــونے پســـې بهـــر تـــه ووځـــي

نشته پۀ ښار کښې دا منظر دَ کلي
قطار قطار جونه ګودر ته ووځي

دَ ډېرې مینې ، نزدېکت له وجې
اکثـر دَ خېـر خبـره شـر تـه ووځـي

ماحول شي داسې دَ جانان پۀ دیدن
لکه سرے ژمي کښې نمر ته ووځي

ارمان دَ زُلفو ئې زړګي ته راشي
پۀ نیمه شپه کښې رفیق غر ته ووځي

****

تا خو زنه باندې یخے شینکے خال دے
هېڅ خبر نۀ ئې زما نه څۀ مې حال دے

دَ انسان فطرت خو خپله بدلون غواړي
ځکه واړه کائنات لره زوال دے

مُلا جان دَ سپینو حورو صفت وکړو
بیا ئې ماته غلي ووې څۀ دې خیال دے

ستا دَ لاس نخښې مې تولې سمبال یخي
کۀ ږمنځه کۀ شیشه ده کۀ رومال دے

څۀ چې نن دَ وړوکوالي مزه واخلو
اچولے مې پۀ بېره کښې هم تال دے

پۀ ما یوه ورځ هم دَ کال غوندې اوږده شي
ستا دیدن ته پروت رفیقه پوره کال دے

****

ستړي ستومانه پُښتانهٔ ولې بې دمه ښکاري
څومره بې حسه شو ،لهٔ خپل غمه بې غمه ښکاري

مونږ پُښتانهٔ به دَ نړۍ مقابله وکړو څهٔ
لا مو بچي هم بې کتابه ، بې قلمه ښکاري

زمونږ پهٔ خُلهٔ سمه خبره هم شي ورانه غوندې
ورانه خبره هم دا ستا دَ خُلې نه سمه ښکاري

پهٔ ناڅاپي راتلو دې خُدائیګو ډېر خوشحاله شومه
دَ انځر ګُله راته ګُل څهٔ بې موسمه ښکاري

زهٔ خو ستا مینه ستا دَ کور پهٔ دېوالهٔ ماتووم
کله چې ستا دَ کور پهٔ لاره باندې ځمه ښکاري

ښکاري چې زړهٔ دې چرته بل چا له ورکړے جوړې
ما ته دې مینه نن سبا رفیقه کمه ښکاري

****

لاړه پـهٔ سـکني مانښـام ئـې کـړه ځـي
خدايـه نـو رفيـق مـې لـهٔ کاکـړه* ځي

دومـره خـود داري مـې خپلـه کـړې ده
خپـل پـردي زمـا نـه اوس پـهٔ ډډه ځي

نېغــه مــې اســمان تــه دُعــا ورسـي
هـر څـو کـهٔ دَ خُلـې مـې ګـړه وړه ځي

ستا پهٔ تلو راتلو هم ځي راځي مې ساه
دا دَ ښائســـتونو ســره ګـــړه ځـــي

هـېڅ کلـه پـهٔ کـار رفيقـه نـهٔ راځـي
شے چې وي دَ غـلا نـو تـل پـهٔ بـډه ځي

****

*کاکړه : زمونږه کلے

روغ مې ؤ سپارلے ستا نظر ته زړۀ
رامې وړو سُیورے پۀ ببرته زړۀ

ما به مې پخوا زړۀ صبر کړے وے
نۀ منې زما خبره چرته زړۀ

ټول عمر ئې ځان پۀ اور سیزلے دے
عشق به خامخا رسوي سر ته زړۀ

بس خو چې پۀ څۀ دې شي خوږې سترګې
ګوري نۀ بیا رنګ ته او نۀ زر ته زړۀ

جوړه بده ورځ ئې کړه رفیق پسې
زور مې لۀ ګوګله کړي بهر ته زړۀ

****

ډوب پهٔ نشه کښې شي خُمار کښې ورک شي
سرے چې کله مخ دَ یار کښې ورک شي

هسې شي مړاوي پهٔ بازار ګُلونه
زلمي دَ کلي ځي پهٔ ښار کښې ورک شي

څوک چې منزل ته بې جانانه درومي
هسې دَ خپله ځانه لار کښې ورک شي

ښهٔ انتخاب ورله پهٔ مینه وکړم
خو رانه توري پهٔ اظهار کښې ورک شي

زما رفیق غلطېدے خو نهٔ شي
ډېر کهٔ دَ ښکلو پهٔ قطار کښې ورک شي

****

www.pukhto.net

زنـدګي هلتـه کښـې بـې آب پرتـه وي
چرتـه چـې دوړه پـهٔ ربـاب پرتـه وي

نـرۍ نـرۍ خوَلـه ئـې راغلـه پـهٔ مـخ
لکـه چـې پرخـه پـهٔ ګـُلاب پرتـه وي

زمـا شـعرونو لېـونۍ کـړه جـوړې
اوس چې مې هر وخت پهٔ کتاب پرته وي

ګټـه خـو هلـه وي درنـه جانانـه
چې پهٔ يو ځائے باندې جناب پرته وي

پګړۍ کـړه کـړم دَ ديدن پـهٔ وخت کښـې
لکـه پـهٔ سـر چـې دَ نـواب پرتـه وي

رفيقـه يـار لـه بـه مـې هـار جـوړؤم
سيپۍ کهٔ تل کښې دَ درياب پرته وي

****

www.pukhto.net

تار دَ رباب دَ زړۀ تارونه چېړي
ټنګ چې ترې پورته شي ، روحونه چېړي

چې دَ مذهب يا رسالت کړي توهين
هغه زمونږه ايمانونه چېړي

زاړۀ يادونه راتازه شي دَ چا
کله نا کله هسې زړونه چېړي

حېران قسمت ته دَ نسيم شمه زۀ
څنګ چې سحر شي نو ګُلونه چېړي

رفيق دَ يار نه هېڅ ګيله نۀ کوي
خو رقيبان ئې پرهرونه چېړي

****

خـومره چـې زخمونـه دي دردونـه دي
دومره ستا پۀ مينه کښې خوندونه دي

څنګـه د ے دا سـتا دَ زړۀ موسـم يـاره
دلتــه خــو دَ اُوښــکو بارانونــه دي

نــۀ مــنم دَ عقــل فلســفې چــرې
لوسـتې مـې دَ عشَـق کتابونـه دي

بيـا بـه ډکـې سترګې لـۀ يـو بلـه ځـو
هـر څـو کـۀ بېسـياره ديدنونـه دي

ګڼـې تـورې زُلفـې ئـې خـوَرې ورې
سم ورتـه خوشحاله شومه غرونه دي

هېـر بـه دې پـۀ ژونـد نـۀ کـړم رفيقـه زۀ
لا خــو اوړيــدلي څــو کلونــه دي

****

مـا لـه پـهٔ لاس لکـه ورِمـه نـهٔ راځـي
وعـده خـو وکـړي خـو هغـه نـهٔ راځـي

چې ستا پـهٔ شُونډو جوتـه شوے نهٔ وي
دَ جـام پـهٔ څښـلو کښـې مـزه نـهٔ راځـي

دَ یـاد چپـه دې اوس راغلـې پخـه
لکـه دا سـتا شـان مېلمنـه نـهٔ راځـي

هسې پـهٔ مـا بانـدې خپـل ځـان درنـوي
کـهٔ نـه ، جانـان شـولو خفـه نـهٔ راځـي

پـهٔ هـر ځـهٔ شـتهٔ يـم هـر ځـهٔ شـته دے منـم
خو تلے وخت بېرتـه خدائ شته نهٔ راځي

ډېرې کوڅې مې کړلې چاڼ ورپسې
سترے مې ځان کړو ستا کوڅه نۀ راځي

راځي دَ ورځې لکه نمر رقیبه
رفیق دَ غل غوندې پۀ شپه نۀ راځي

****

# ملګرے

دَ جانان دَ ملګرتیا پۀ طمع نۀ یم
پۀ مثال لکه سوالګرے دے دَ لارې

دَ هغه نه زیات ئې غم ته خوشحالیږم
چې ټول عمر مې ملګرے دے دَ لارې

****

دَ چـــاؤدنې او دَ بــــم خبــــرې کیـــږي
هـــره ورځـــې دَ مـــاتم خبــــرې کیـــږي

لېونتوب مې ورځ پهٔ ورځ راسېوا کیږي
دَ ښائست دې چم پهٔ چم خبرې کیږي

ستا پهٔ سر باندې ویرېږم چې رانهٔ شې
ستا پهٔ سر مې دے قسم خبرې کیږي

ګُلې راشه پهٔ دیدن پسې دې مرمه
دَ ګُلونـــو دَ موســـم خبـــرې کیـــږي

لیک ئې ټول عمر دَ زړهٔ پهٔ وینو کړے
دَ رفیـــق بـــه دَ قلـــم خبـــرې کیـــږي

****

لکه سپوږمۍ تورې تیارې له راغله
چې لېونۍ کلي ته شپې له راغله

خوشحالي راغله بس یو دوه ورځو له
ما وې کۀ دا چرته مودې له راغله

خلقو رُسوا کړله کوڅه پۀ کوڅه
چې لړ بهر خپلې کوڅې له راغله

زر دې رُخسار لکه پاڼې زیړ شو
څنګ چې زما نامه دې خُلې له راغله

وګو بچو له دَ خُوراک پۀ تکل
یوه تور سرې مې حُجرې له راغله

زۀ ترې رفیقه توبه ګار نۀ شومه
خبره هر څو کۀ توبې له راغله

****

رنګ چې دَ مور پلار پۀ دُعا نه وے زۀ
دا څۀ چې یمه بیا به دا نۀ وے زۀ

ایله به خلاص وے دَ حساب کتاب نه
څومره به ښۀ وے چې پېدا نۀ وے زۀ

کَړې وعده چې دَ وصال دې نۀ وے
یا چې لۀ تا نه بس جُدا نۀ وے زۀ

زۀ کۀ پۀ ذکر دَ خپل رب وے مشغول
دُومره به ستړے پۀ دُنیا نۀ وے زۀ

رفیقه زۀ کۀ پۀ زړۀ نۀ وے حساس
داسې به چرې پۀ ژړا نۀ وے زۀ

****

ښۀ به دې مور پۀ خپل دیدن کړم ، ګیلې څۀ له کوې
پوره ارمان به درله نن کړم ، ګیلې څۀ له کوې

تا چې به سترګې تورولې هر سحر ، مازیګر
اخر دې ورک لۀ خپل وطن کړم ، ګیلې څۀ له کوې

زړۀ به دې یخ شي،بس کړه ځان دې پۀ ښېرو ستړے کړو
ګرېوان به خیرې تر لمن کړم ، ګیلې څۀ له کوې

تۀ خفه کیږه مۀ دَ غل پۀ ځائے به مل وتښتي
زړۀ به مې پرې لۀ خپل بدن کړم ، ګیلې څۀ له کوې

رفیق ساده باده سړے دَ څۀ نه نۀ ؤم خبر
دا خو زۀ تا پۀ ځان مئین کړم ، ګیلې څۀ له کوې

****

www.pukhto.net

ژوند څۀ بې معنٰی به وے چې مرګ نۀ وے
هر څۀ بې مزې به وے چې مرګ نۀ وے

ماته جهنم به وے هم دا دُنیا
ستا دَ مخ لمبې به وے چې مرګ نۀ وے

ظلم به کېدے پۀ هر غریب باندې
زور هم دَ شملې به وے چې مرګ نۀ وے

قدر به دَ وخت نۀ وے دَ چا سره
خوشې ورځې شپې به وے چې مرګ نۀ وے

هسې هم پۀ ژوند خو پوره کېږې نۀ
زۀ او ستا وعدې به وے چې مرګ نۀ وے

خدائ خبر چې بیا به توبې وے کۀ نۀ
څۀ رنګه توبې به وے چې مرګ نۀ وے

غم دَ بل جهان به راسره نۀ وے
حرص هم ددې به وے چې مرګ نۀ وے

بیا به مو دَ مرګ رفیقه سوال کوؤ
دې ارمان پسې به وے چې مرګ نۀ وے

****

## پیغام

زۀ دَ ډېرې مجبورۍ نه نن پۀ جنګ یم
دا پیغام دې وي زما دَ خُلې عالَم ته

دا دُنیا راباندې بیا تهٔ پک راواخلي
زۀ پُښتون چې کله لاس کړمه قلم ته

****

اوس ئې کړې بدلې په ایمان سترګې
پاتې هغه نۀ شوې دَ جانان سترګې

سرۀ او سپین کۀ ورکړې دَ تمام جهان
بیا هم نۀ مړېږي دَ انسان سترګې

مات مې نۀ شي خدایه دَ ځوانۍ غندل
بیا راته نیولي ټول جهان سترګې

شېخ کوي پۀ ما دَ شرابي ګُمان
سرې مې وي سحر کښې پۀ خفګان سترګې

سترګې مې دَ یار راته رایادې شي
ووهي چې کله هم اسمان سترګې

پاک به خامخا وي دَ رفیق زړګے
شپه کښې ورَوي چې ئې باران سترګې

****

ځومره نادان دے چې مې زړۀ ورانوي
ځان لۀ دَ سر سُیورے ځوک نۀ ورانوي

سترګې دې داسې کوي غلا زما نه
لکه پردي کورونه غلۀ ورانوي

دَ هر عاشق لۀ مخ ایرې چڼیږي
بهیر دَ اُوښکو تربڼه سرۀ ورانوي

هسې یو سوال زۀ لۀ اغیارو پُښتم
چې خوږ وطن راله پۀ څۀ ورانوي

څۀ سیاسي خلقو تباه کړو وطن
څۀ زلزلې څۀ ئې اُوبۀ ورانوي

رفیقه طمع ترې دَ ښو مۀ کوه
رقیب خو سم کارونه ښۀ ورانوي

****

دُومره ئې عادت شوم دَ ارمان سره
خوند نۀ کوي ژوند اوس دَ جانان سره

تاله به جانانه څۀ تُحفه دروړم
گُل خو پاڼې پاڼې شو خزان سره

څو پورې چې مونږ دَ يو بل پښې وهو
مخ به پښتانه يُو دَ تاوان سره

خلق حق خبره پټوي ولې
دا خو هم زياتے دے دَ انسان سره

اوس ئې پۀ څۀ چل هُنر راټول کړه بس
نور نۀ شو رُسوا څيرې گرېوان سره

ژوند مې تېرؤمه دَ عزت غېرت
مرگ غواړم رفيقه دَ ايمان سره

****

خلق ځـۀ اُودۀ دي ځـۀ مُلیـان ړانـدۀ
خـړې دي اُوبـۀ پکښـې مهیـان ړانـدۀ

وي پـۀ خزانـه دَ هـر باچـا نظـر
خدایه دَ دې ملک کړې حکمران ړاندۀ

ځنـې شـو بِنـا دَ عشَـق اور سـره
ځنـې عاشـقان دي هغـه شـان ړانـدۀ

څـوک پـۀ دیـدنونو ښـۀ مـاړه ګرځـي
څـوک کـړه پـۀ ژړا ژړا هجـران ړانـدۀ

څـوک بـه دَ مئینـو لاري څـاري نـۀ
ښۀ به وي چې ټول شي رقیبان ړاندۀ

دا خـو دي رفیقـه دَ ټـول قـام سـترګې
خدائ دې چرې نۀ کړي شاعران ړاندۀ

****

وي کۀ دَ غر پۀ شان خو باد شي سړے
چې تکبر کوي برباد شي سړے

نن سبا څوک دَ چا تپوس نۀ کوي
چې کار ئې پېښ شي نو وریاد شي سړے

بیا پرې خوارۀ نۀ لګي هېڅ دَ دُنیا
مور پۀ خوږو چې دَ اولاد شي سړے

ظُلم دَ عرش نه ئې پۀ فرش کړي ګُزار
خو پۀ ښېګړه باندې ښاد شي سړے

دُومره خوارۀ دي دَ رفیق شعرونه
چې ورته ستړے هم پۀ داد شي سړے

****

* دَ اباسین یوسفزي صېب دَ یو کلام پۀ ردیف

تلـــې ده مـــا نـــه مـــروَره خنـــدا
نـهٔ راځـي اوس پـهٔ څـهٔ خبـره خنـدا

څنګ چې لـهٔ تـا نـه مُسـافر شـومه زهٔ
داسـې شـوه مـا نـه مُسـافره خنـدا

نهٔ مې بیا سترګې خوَږې شَوې پهٔ چا
نـهٔ مـې بیـا کـړې ده دَ سـره خنـدا

مونږ به ملګري پهٔ حُجره کښې ناست وو
مـونږ بـه کولـه تـر سـحره خنـدا

زهٔ خـو خنـدا ځـان لـه پـهٔ زور راولـم
خـو سـتا ده ډېـره زورَوره خنـدا

څو مره پۀ ناز کوي خندا ماشومان
خو مور او پلار ئې کړي پۀ يَره خندا

زړونو کښې څۀ غرونو کښې لارې کوي
رفيقه څۀ ئې ده کافره خندا

****

## مینه

مینه کښې منزل ته څوک رسيږي نۀ
داسې يو مزل دے چې ختميږي نۀ

هره ورځ ئې زۀ نوے اظهار کووم
مینه مې لۀ تا سره کميږي نۀ

****

عقلــــه کېنـــــه تــــۀ دَ فلســــفو ســــره
نــــۀ رســـي پـــۀ ســـر دَ لېونـــو ســـره

تلےترې اوس پۀ مخکښې نۀ پۀ شا شمه
مـــخ شـــومه څـــۀ داســـې حـــادثو ســـره

داســـې خـــو ژونـــدي قامونـــه نـــۀ کـــوي
څنـــګ چـــې پښـــتانۀ کـــړي دَ پښـــتو ســـره

ســـر بـــه ئـــې قلـــم شـــي خـــو ټيټيـــږي نـــۀ
مینـــه او کـــۀ جنـــګ وي پښـــتنو ســـره

دروند سړے دَ سپکو سره سپک شي هم
درونـــد ښـــکاري رفيقـــه دَ درنـــو ســـره

وي کـــۀ مـــې رفيـــق خـــوچې بـــې ننګـــه شـــي
کيـــږي نـــۀ ژونـــدون مـــې دَ هغـــو ســـره

****

ښکلا ما ترپ شکستو بل ما ته دي ترځې نه دا وختونه
غواړي دیدنونه دي زما نه دا وختونه

خدائېګو کۀ دا ژوند مې دَ بل چا سره تېرېږي هم
تا له مې راوړي دَ هر چا نه دا وختونه

بې لۀ تا سحر کۀ ما زیګر کۀ نیمه شپه وي یار
ژوند ته مې پرېږدي نۀ پۀ اسانه دا وختونه

خُدایه څۀ به کېږي ،څۀ به کېږي څۀ به کېږي اوس
نۀ تېرېږي نور خو بې جانانه دا وختونه

منم رفیقه وخت دَ هېڅ چا انتظار نۀ کوي
تېر به شي پۀ ما هم خو پۀ ګرانه دا وختونه

****

ګُلـه سـتا مئـین خـو پـۀ ښـاخو اوړي
دا ښـه ده چې لار دې پـۀ ازغـو اوړي

بیا بـه وي پۀ مـا باندې امبـار خـاورې
زړۀ چـې لـۀ جانانـه مـې تـر څـو اوړي

داسـې دې لېمـه شـي دَ خُمـار نـه ډک
سـم لکـه شـراب چـې پـۀ کاسـو اوړي

تـا چـې کـړو دیـدن زمـا پـۀ زړۀ قـدغن
چـا وې چــې روژې لا پـــۀ وړو اوړي

ببرتـه دې یادونـه رانـه تلـے نـۀ شـي
دا خـــو مېلمانـــۀ پـــۀ پُښـــتنو اوړي

څـۀ بـه درتـه وایـم دَ پُښـتون بچـي
لـږ چـې را زلمے شي پـۀ نشـو اوړي

خُـود خـو بـه رفیقـه لېـونے ګرځـي
څوک چې ستا پۀ شان پۀ لېونو اوړي

****

# دوه شعرونه

شپـخه نخښې کۀ دې جوړې شوې تندي کښـې
دَ حـوَس سـیند دې بهیـږي پـۀ زړګي کښـې

دَ وطـن پـولې پتـې داسـې سـینګار شـي
لېونتـوب راباندې راشي پـۀ سـپرلي کښـې

****

دَ زړګي حال دې راته هېڅ کله پوره ونۀ وې
څۀ چې پکار وو تا پۀ خپله خُلۀ هغه ونۀ وې

ما خو وئېل تاله به رُخصت درکړم پۀ ډېره مینه
خو غرېو چې ونیؤم ما تا ته مخه ښه ونۀ وې

ستا تور وربل لۀ دَ یو سُورګُل دَ ارمان پۀ خاطر
لګیایم زۀ، ورځ ته مې ورځ شپې ته مې شپه ونۀ وې

زۀ ښۀ پۀ حقه یم خو بیا هم تا ته پړ کړمه ځان
ستا پړې خبرې ته مې هېڅ کله هم پړه ونۀ وې

منم رفیق ته دې اقرار وکړو دَ خپلې مینې
خو تا رقیب ته یاره هېڅ کله هم نه ونۀ وې

****

دا چې دې لېمو کښې ډوبېدۀ غوارم
بره اسمانونو ته خاتۀ غوارم

زۀ خو دَ مظلوم دَ حق غوښتنه کړم
نورې دَ مستۍ خبرې نۀ غوارم

خوښ مې دي دَ خپل زړګي زخمونه سرۀ
ځکه دې خالونه پۀ مخ شنۀ غوارم

مخ ئې شو ګُلاب ګودر ئې ښکلے کړو
ما چې ورته دا ووې اُوبۀ غوارم

لږ چې پۀ حالاتو باندې سوچ وکړې
لږ غوندې بېدار مې پُښتانۀ غوارم

زۀ به مې دَ خپل رفيق نامه واخلم
څوک کۀ رانه وپُښتې چې څۀ غوارم

****

چې ئې لا سونو نه قلم پرېوتے
بیا هغه قام پهٔ هر قدم پرېوتے

بیا مې ژوندون ته نېغه کړې ده ملا
پهٔ ما چې غرچرته دَ غم پرېوتے

دَ حُسن تندر دې بلهاوهلې
خو پهٔ ما ډېر پهٔ نوروکم پرېوتے

چا ته چې خوار اُولس ښېرې کړې دې
هغه لهٔ تخته هغه دم پرېوتے

اخر هم خپل منزل ته ورسېدو
پهٔ لاروا له کښې رفیق سم پرېوتے

****

هسې لګېدلے مې الزام پۀ سر
سر مې ورته ټيټ کړلو دَ قام پۀ سر

ټوله ورځ مې ستا فکر کښې تېره شي
بيا مې راشروع شي درد ماښام پۀ سر

رنګ چې پکښې ستا دَ سُور سالو شي ګډ
شوخ شي زيړے نمر بره دَ بام پۀ سر

شېخ چې پۀ تسبو باندې لړ ستړے شي
ورشي بيا راواړوي ډک جام پۀ سر

ګېر دَ دواړو پښو نه شو هوښيار رفيق
ايښے ورته تا دَ زُلفو دام پۀ سر

****

کار دَ ثواب او دَ ګُناه پېژني
هر يو سړے تياره ، رڼا پېژني

زۀ پۀ شعرونو کښې هم تا ستايمه
خلق زما پۀ وجه تا پېژني

قاصد چې ما ته وې تپوس دې کوي
نو ما وې " ښۀ لکه نو ما پېژني "

پۀ "نۀ خبر يم" خلاصېدے نۀ شي ځوک
چې ښۀ بېګا او ښۀ سبا پېژني

چې سره مئينح کښې اتفاق رانۀ شي
پۀ اتفاق پُښتانۀ دا پېژني

زما او ستا مئینځ کښې تعلق داسې دے
لکــه چــې ګُــل څنګــه بــورا پېژنــي

دا خــو الله پــهٔ رفیــق فضــل کــړے
ځکــه ئــې نــن ټولــه دُنیــا پېژنــي

****

# رڼا

رڼــا رڼــا فکــر مــې راوړو دَ رڼــا دَ ښــاره
تیــارې دَ کلي دَ کوڅو مې پرې رڼا رڼا کړې

عقــل بــه زهٔ دَ ګړنګونــو غورځــولے ؤم خــو
عشقه تهٔ راغلې ، ښه ده سترګې دې زما رڼا کړې

****

بیا یو جام یوې کاسې ته مې زړۀ کیږي
پۀ والله کۀ نن توبې ته مې زړۀ کیږي

لېونے شوم زما سر ماتول غواړي
زما جانه ستا کوڅې ته مې زړۀ کیږي

ستا دَ کلي، پۀ هر چم ،هره کوڅه کښې
یوې چغې ، یوې ټپې ته مې زړۀ کیږي

ستا خوَږې خوَږې خبرې مې یادیږي
ستا دَ خُلې یوې قصې ته مې زړۀ کیږي

پۀ منت او پۀ زارئ خو پخلا نۀ شو
بس دَ اُوښکو یوې جرګې ته مې زړۀ کیږي

ستا دَ کلي بېرته تلۀ مې مجبوري ده
نورخو خدائېګو کنې شپې ته مې زړۀ کیږي

دَ ســاقي خُمــارې ســترګې رایــادېږي
ځه چې لاړ شو مېخانې تـه مې زړهٔ کیـږي

نـهٔ دَ دیــن نـهٔ دَ سـادین شـومه رفیقـه
کلـه دې کلـه هغـې تــه مــې زړهٔ کیـږي

****

# دیدن

بیـا ورتــه یــو نظـر کاتــهٔ نــهٔ وو ښــهٔ
لا پرهرونـــه مـــې دَ زړهٔ نـــهٔ وو ښـــهٔ

پــس لــهٔ خبــرو ئــې شــکرې شُــونډې
مـا لـه خـو دومـره ډېـر خـوارهٔ نـهٔ وو ښـهٔ

****

زۀ ئې لمبه زۀ ئې لوګې کړمه نور څۀ غواړې تۀ
ښائست دې یاره لېونے کړمه نور څۀ غواړې تۀ

زړۀ خومې تا دَ ائینې غوندې پخوا چولَے
مات به مې خبر دے هم تند ے کړمه نور څۀ غواړې تۀ

ځان به لړ نور هم ژړَغونے غربونیولے کړمه
تا به دَ ګُل هسې مُسکے کړمه نور څۀ غواړې تۀ

بس دَ ګرېوان نه مې لاس وباسه شر مۀ جوړوه
درنه به صبر خپل زړګے کړمه نور څۀ غواړې تۀ

زۀ به نوکر شمه هم ستا دَ سپرلي خېزې ځوانۍ
ځار به لۀ تا نه هم سپرلے کړمه نور څۀ غواړې تۀ

رفیقه تا چې زۀ راخپل کړمه بیا خپل څۀ کووم
ځان به دَ خپلو نه پردے کړمه نور څۀ غواړې تۀ

****

جانانه سترګو کښې دې ما وګوره
ځان ته ائین کښې خامخا وګوره

زړګے زما دې پرې سورے شي اشنا
خو ته پهٔ تلو کښې لږ پهٔ شا وګوره

بُلبُل پهٔ چغو باندې سر شو سحر
او ګُل بې غمه پهٔ خندا وګوره

جانانه سپورے مې پهٔ ګټهو ولې
تهٔ خو دې خپله ناروا وګوره

رفیقه ټیټ دې کړلو سر دَ رقیب
پهٔ ډک محفل کښې راته بیا وګوره

****

کۀ دا دُنیا شي ګېر چاپېره لۀ درمانه ډکه
زما دَ درد قصه ده ډېره لۀ ارمانه ډکه

راځه راځه میني ما سر ته دَ دار وخېژوه
زمونږه ګټه هم مُدام وي لۀ تاوانه ډکه

مانه زما دَ محبت پښتنه څۀ له کوئ
قصه خوږه ده خو ده ټوله دَ خفګانه ډکه

دلته دَ ګُلو قتلِ عام کوي هم دا پښتانۀ
ګڼې دَ حُسن نه خو دا سیمه لۀ ځانه ډکه

پاس پۀ اسمان کښې چې سپوږمۍ هم بې قراره ګرځي
نۀ راځي یار رفیقه شپه ده لۀ طوفانه ډکه

****

یـو خـوا ګـُلاب بـل خـوا انـار ګـُلونـه
شُونډې دې سرې دي هم رُخسـار ګـُلونـه

زمـــا دَ زړهٔ پـــهٔ وینـــه وتـو کېـــدهٔ
سـتا پـهٔ زُلفـانو کښـې قطـار ګـُلونـه

جانانـه بـس کـړه اوس خـو راشـه کنـه
مـــا درتـــه وشـــیندل پـــهٔ لار ګـُلونـــه

چرتـه ئـې مالـه پـهٔ تُحفـه کښـې راؤړه
زمـا هـم خـوښ وي کنـه یـار ګـُلونـه

زهٔ ئـې قاتـل ، زهٔ ئـې بـې حسـه ګـڼم
چې خرڅـوي څـوک پـهٔ بـازار ګـُلونـه

زمـا رفیقـه سـتا نـه ښـهٔ خـو نـهٔ دي
ستا نـه قُربـان ، سـتا نـه شـه ځـار ګـُلونـه

****

حالات مې وژني نۀ ژوندے مې ساتي
تـر څـو بـه دا سـې لېـونے مـې سـاتي

مـا چرې خپـل ضـمير پلـورلے نـۀ دے
صـلـه ئـې دا ده چـې سـرے مـې سـاتي

قُربـان قُربـان شـم سـتـا لـۀ غـمـه يـاره
چې پۀ دردونو کښې مُسکے مې ساتي

خدائېګو مقـام دَ ځنـاور تـرې ښـۀ شـو
انسان مې وژني خو بس سپے مې ساتي

زړۀ مـې رفيقـه هـر انسـان خپـل کـړے
خو بس دَ خپل ځان نه پردے مې ساتي

****

## سندره

سـودا دې وکـړه ، سـودا ګـره لاړې
چرتـه دلبـره لاړې
تـا مـې زړۀ وېـوړو دَ زړۀ سـره لاړې
چرتـه دلبـره لاړې
اوس مې ګوګل خالي خالي پاتې دے
زړۀ رانه تا وړے دے
تن مې حېران حېران بېخي پاتې دے
زړۀ رانه تا وړے دے
يمـه بـې هوشـه ، نـا خبره لاړې
چرتـه دلبـره لاړې
تـا مـې زړۀ وېـوړو دَ زړۀ سـره لاړې
چرتـه دلبـره لاړې

اوس خو څۀ خوند دَ سحر پاتې نۀ دے
چې رانه تۀ تلے یې
هم مازیګر، مازیګر پاتې نۀ دے
چې رانه تۀ تلے یې
زما سحر او مازیګره لاړې
چرته دلبره لاړې
تا مې زړۀ وېوړو دَ زړۀ سره لاړې
چرته دلبره لاړې
اوس به تازه ګُلونه څۀ کړمه زۀ
چې یو بل نۀ شو لیدے
ځان له به تور قمیص جوړ نۀ کړمه زۀ
چې یو بل نۀ شو لیدے
رفیقه تۀ دَ پېښوره لاړې
چرته دلبره لاړې
تا مې زړۀ وېوړو دَ زړۀ سره لاړې
چرته دلبره لاړې

****

# سندره

ازغـــي ازغـــي ډنـــډر　　　دَ ګُـل تـاج ئـې پـۀ سـر
غوځ غوځ مې دے ځیګر　　　پـــۀ زړۀ یمـــه پرهـــر

دا ژونـد مـې بـې لتـا نـه
تېریـــږي نـــۀ جانانـــه
حېرانـــــه پرېشـــــانه
پـۀ ژونـد شـومه پښـېمانه

پـــۀ مـــا وکـــړه نظـــر　　　پـــۀ زړۀ یمـــه پرهـــر
غوځ غوځ مې دے ځیګر　　　پـــۀ زړۀ یمـــه پرهـــر

زۀ ناسته ستا پـۀ طمع
تـۀ څومره ئې بې غمه
یو ځائے کړه دوه قدمه
رامنـــډه کـــړه صـــنمه

بـــس راشـــه رالـــه زر پـــۀ زړۀ يمـــه پرهـــر
غوځ غوځ مې دے ځيګر پـــۀ زړۀ يمـــه پرهـــر

دَ کلـــي نـــه تـــر ښـــاره
شيندلي مـې ببسـياره
جانانـــه ســـتا دَ پـــاره
دَ ګُـــل پـــانړې پـــۀ لاره

مـــاحول دے معطـــر پـــۀ زړۀ يمـــه پرهـــر
غوځ غوځ مې دے ځيګر پـــۀ زړۀ يمـــه پرهـــر

ســاتلي مـــې دي تالـــه
وختونـــه زمـــا لالـــه
بس زۀ به شم خوشحاله
رفيقـــه راوړه مالـــه

رنګونـــــه دَ اختـــــر پـــۀ زړۀ يمـــه پرهـــر
غوځ غوځ مې دے ځيګر پـــۀ زړۀ يمـــه پرهـــر

****

# سندره

بس ځه ورځه دَ مخې دې رڼا شه
قبوله مې دُعا شه
بچیه هر یو غم درنه په شا شه
قبوله مې دُعا شه
زۀ درته دُعا سحر ، ماښام کوؤم
خدائ دې درله ګُل کړي هر قدم بچے
خېر کۀ دې دَ غم دَ لاسه مړۀ شمه
رادې پۀ تا نۀ شي چرته غم بچے
زما خو زندګي هم ځار له تا شه
قبوله مې دُعا شه
بچیه هر یو غم درنه پۀ شا شه
قبوله مې دُعا شه
کله چې دَ خېره لوئې سړے شې تۀ
ګُل به مې ارمان ورژوي دَ زړۀ
مات دې چرته نۀ شي دَ ځوانۍ غندل
څوک به مې ټوټې بیا ټولوي دَ زړۀ
پۀ مونږه باندې هم ښۀ وختونه راشه
قبوله مې دُعا شه

بچیه هر یو غم درنه پهٔ شا شه
قبوله مې دُعا شه
کلکه دې ملا وتړه مزل وکړه
واخله قدمونه دَ منزل پهٔ لور
مخکښې دَ ازغو لارې چې سر کړې تهٔ
بیا به ورسېږې تهٔ دَ ګُل پهٔ لور
یو زېړے شه ، یو فکر دَ سبا شه
قبوله مې دُعا شه
بچیه هر یو غم درنه پهٔ شا شه
قبوله مې دُعا شه
ستا دَ هر ارمان پوره کېدو له بس
زهٔ به مې ځواني ټوله نچوړ کړمه
دغه مې رفیقه دے ارمان دَ زړهٔ
تا پهٔ خوشحالو باندې چې موړ کړمه
تهٔ وغوړېږه ، ګُل شه ، پهٔ خندا شه
قبوله مې دُعا شه
بچیه هر یو غم درنه پهٔ شا شه
قبوله مې دُعا شه

****

# سندره

هسې مې تار تار شوه لمنه جانانــــه ګُـــــل بدنـــــه
چــې ســتا دیــدن کوؤمــه چــې ســتا دیــدن کوؤمــه

ســتا خــو بانــه لشــه لشــه دي
زۀ ئـــې ویشـــتلے پـــۀ زړۀ
کاتــۀ دې هــم نشــه نشــه دي
زۀ ئـــې ویشـــتلے پـــۀ زړۀ

سینه پرهـر مـې شـوه دننـه جانانــــه ګُـــــل بدنـــــه
چــې ســتا دیــدن کوؤمــه چــې ســتا دیــدن کوؤمــه

ســتا دَ دیــدن ډیــر ارمـانـي یـم
زړۀ مـــــې خُـــوږیږي بلهــــا
زۀ پکښـې ښـۀ ډیـر تـاواني یـم
زړۀ مـــــې خُـــوږیږي بلهــــا

لکه ټومبي پکښې څوک غنه جانانــــه ګُـــــل بدنـــــه
چــې ســتا دیــدن کوؤمــه چــې ســتا دیــدن کوؤمــه

لاس چې یو بل نه چاپېر نۀ کړو
بیا پۀ دیدن څۀ کوې
چې پۀ رقیب زهر تېر نۀ کړو
بیا پۀ دیدن څۀ کوې
چې پکښې ښکل دې نه کړم زنه　　جانه ګُل بدنه
چې ستا دیدن کوؤمه　　چې ستا دیدن کوؤمه

مازیګرے وي څومره ښکُلے
زۀ پکښې تا وینمه
تا راته وي ګودر نیولے
زۀ پکښې تا وینمه
زما رفیقه ستا مننه　　جانانه ګُل بدنه
چې ستا دیدن کوؤمه　　چې ستا دیدن کوؤمه

****

# سندره

یادیږي مې پردېس کښې هر منظر دَ پېښور
سحر دَ پېښور هم مازیګر دَ پېښور
ارمان چې هلته وو نۀ وے مُسافر دَ پېښور
سحر دَ پېښور هم مازیګر دَ پېښور

بیا هغه لوګي،دُوړې او شور راته یاد شوے دے
څۀ وکړم وطن او کلے کور راته یاد شوے دے
وعظ ، نصیحت دَ خپلې مور راته یاد شوے دے

زۀ لاړ شم پۀ خیالونو کښې اکثر دَ پېښور
سحر دَ پېښور هم مازیګر دَ پېښور
یادیږي مې پردېس کښې هر منظر دَ پېښور
سحر دَ پېښور هم مازیګر دَ پېښور

ډېر دَ پېښور لوئې پوهنتون راته یادیږي نن
ښکلې ورځې شپې مې دَ پرون راته یادیږي نن
حُسن دَ شدل بدل پُښتون راته یادیږي نن

ترخــو بــه یمــه داســې در پــۀ در دَ پېښــور
ســحر دَ پېښــور هــم مــازیګر دَ پېښــور
یــادېږي مــې پــرد ېس کښــې هــر منظــر دَ پېښــور
ســحر دَ پېښــور هــم مــازیګر دَ پېښــور

منم چې مې خوئ ، خصلت هم جوړ دَ دیر دَ غرونو دے
فــن ، هنــر مــې هــم کــۀ دَ رنګونــو او ګُلونــو دے
ژونــد خــو مینــه مینــه ده رفیقــه راج دَ زړونــو دے

خــوښ مــې پېښــور، زمــا دلبــر دَ پېښــور
ســحر دَ پېښــور هــم مــازیګر دَ پېښــور
یــادېږي مــې پــرد ېس کښــې هــر منظــر دَ پېښــور
ســحر دَ پېښــور هــم مــازیګر دَ پېښــور

****

# دَ سوات

دا نظم مې پهٔ انټرنېټ دَ اخبار کتلو نه پس ولیکلو
چې سوات پکښې خپل فریاد پخپله کوي (2009 اپرېشن)

هغه هم وخت وُ چې زهٔ ښهٔ اباد وُم
لاړمه اوس کنډر کنډر شومه زهٔ
سوات وُمه ښکلے دَ خپل نوم پهٔ شانتې
دَ چا دَ لاسه کنډ کپر شومه زهٔ

زهٔ خو ښائسته وُم پېدا کړے خالق
ښائسته ښائسته خلق مې غېږ ته راتلهٔ
لکه چې مور وُم دوئې بچې وو زما
مونږ به یو بل ته ښکلي ښکلي کاتهٔ
خو لاړه غېږه مې خالي پاتي شوه
اوس پهٔ سینه پرهر پرهر شومه زهٔ
سوات وُمه ښکلے دَ خپل نوم پهٔ شانتې
دَ چا دَ لاسه کنډ کپر شومه زهٔ

زما دنګ غرونه څومره کلک ولاړ وو
خو اوس بيخي دَ وېخ نه ونښېدۀ
زما نختر هم ځواني مرګ شو لاړۀ
چې پرېواته نو ګډ بېدۀ شنېدۀ
لکه سېلاب پۀ مخه واخستمه
لکه چې ډوب پۀ سمندر شومه زۀ
سوات ۋمه ښکلے دَ خپل نوم پۀ شانتې
دَ چا دَ لاسه کنډ کپر شومه زۀ

دَ مرغُزار او فضاګانو کتو له
چې څوک به راغلۀ ، شو حېران به دلته
زما سيندونه غُورځنګي سيندونه
وو پۀ مکېز مکېز روان به دلته
خو اوس اوبۀ مې ګډې وډې درومې
دَ ډېرې وېرې نه اوتر شومه زۀ
سوات ۋمه ښکلے دَ خپل نوم پۀ شانتې
دَ چا دَ لاسه کنډ کپر شومه زۀ

زما باغونه به وو ډک دَ ميوۋ
دَ بُلبُلانو پرې چغار به جوړ ۋ
ټول ماليارانئې هم تاله ترغه شو

دَ غریبانو پرې روزګار به جوړ ؤ
ما به دَ خېټې غم دَ نورو کوؤ
پخپله تږے هم نهر شومه زهٔ
سوات ؤمه ښکلے دَ خپل نوم پهٔ شانتې
دَ چا دَ لاسه کنډ کپر شومه زهٔ

زما پهٔ شین فصل سوکړه خوَره شوه
دَ زهرو ډکې شولې پاتې دانې
مارغان څهٔ مړهٔ شو څهٔ پهٔ بله لاړل
وائي به څوک دلته سحر ترانې
زهٔ به دَ خپل ښائست پهٔ زور نازېدم
خو نشانه دَ زُوروَر شومه زهٔ
سوات ؤمه ښکلے دَ خپل نوم پهٔ شانتې
دَ چا دَ لاسه کنډ کپر شومه زهٔ

زما دَ خاورې خُوشبوئي چې به وه
لاړه بدله بدبویۍ کښې شوه اوس
لا ترې لوګي ځي دَ ترخو بارودو
مستي ترې لاړه پهٔ نیستۍ کښې شوه اوس
ما خو بخښهٔ تولې دُنیا ته ژوندون
دَ امن ځائے ؤم ، ځائے دَ شر شومه زهٔ

سوات ؤمه ښکلے دَ خپل نوم پۀ شانتې
دَ چا دَ لاسه کنډ کپر شومه زۀ

تپوس دَ چا نه دَ چمن مې وکړم
زما بحرېن څۀ شو ، کالام مې څۀ شو
ما چې مستې پکښې اکثر کوله
هغه سحر څۀ شو ماښام مې څۀ شو
ژاړمه اُوښکې مې لۀ سترګو نه ځي
دَ دې دُنیا نه مرور شومه زۀ
سوات ؤمه ښکلے دَ خپل نوم پۀ شانتې
دَ چا دَ لاسه کنډ کپر شومه زۀ

دَ ډېرو خلقو نه شو پاتې بچې
هم ډېرې میاندې شولې سر پۀ ژړا
لاړلې ډېرې پېغلې کُونډې شولې
دَ ډېرو واړه خاندان شو تباه
رفیقه څۀ غم راپۀ سر شو ما ته
والله کۀ پوهه پۀ اختر شومه زۀ
سوات ؤمه ښکلے دَ خپل نوم پۀ شانتې
دَ چا دَ لاسه کنډ کپر شومه زۀ

****

# سېلاب

کلے دے ، کۀ ښار دے ، کۀ چمن ، سېلاب اخستے دے
خدایه څۀ به کیږي ټول وطن سېلاب اخستے دے

سوات کښې هم پۀ دیر او کوهستان کښې بارانونه دي
غرونه ئې اُوبۀ کړه داسې لوئې لوئې تندرونۀ دي
وران شو ټول دَ سېلمې سړکونه کۀ پُلونه دي

ښاړه ده کۀ باغ دے ، کۀ ګُلشن ، سېلاب اخستے دے
خدایه څۀ به کیږي ټول وطن سېلاب اخستے دے

ډوب شولو نوښار، اوبو کښې ګوره پېښور ګرځي
خلق دَ کورونو نه بهر او تر ګرځي
بیاج دَ خوراکونو شولو هر سړے نهر ګرځي

هر چا سره غم دے دَ کفن ، سېلاب اخستے دے
خدایه څۀ به کیږي ټول وطن سېلاب اخستے دے

یـــوائـي خـــو نوښـــار او پېښـــور نـــۀ دي مـــردان نـــۀ دے
خـلاص ترېنـه کوهـاټ ، پـاړه چینـار ، وزیریسـتان نۀ دے
سندھ او پۀ پنجـاب کښـې ترېنـه بچ هم یو انسـان نۀ دے

لـوئې دي کـۀ واړه دي هـر یـو تـن سـېلاب اخسـتے دے
خدایـه څـۀ بـه کیـږي ټـول وطـن سـېلاب اخسـتے دے

خلـق خـو دَ مخکښـې نـه اختـه پـۀ مصـیبت کښـې وو
جـوړ ورتـه دوزخ شـو ګنـې دوئـې خـو پـۀ جنـت کښـې وو
امـــن ؤ ژونـــدون ؤ پُښـــتانۀ پـــۀ محبـــت کښـــې وو

سـوات کـۀ چارسـده ده کـۀ مـدین سـېلاب اخسـتے دے
خدایـه څـۀ بـه کیـږي ټـول وطـن سـېلاب اخسـتے دے

خلق پـۀ خپـل غـم کښـې ډوب دَ چا پـۀ کـار راتلے نـۀ شي
ځائے پـۀ ځـائے ګېر شوي دي پـۀ یـو طرف هـم تلے نـۀ شي
داسـې جُـدا شـوي چـې یـو بـل تـه رسـېدے نـۀ شـي

غـــواړي هـــر ســړے دَ بـــل دیـــدن ســېلاب اخســـتے دے
خدایـه څـۀ بـه کیـږي ټـول وطـن سـېلاب اخسـتے دے

****

# زما حسنین

زمونږ دَ ژوند دَ سختو ورځو شپو ملګرے زما ځوے
حسنېن پهٔ ۲۰۱۰ کښې چې پهٔ انګلېنډ کښې ئې زمونږه
تنهائي ختمه کړه

هېڅ خبر نهٔ وُم ماشوم وُم
چې رالوئ شوم لږ هوښيار شوم
کله ژوند راباندې بار شو
کله زهٔ پهٔ ژوندون بار شوم

بــې خبــر ؤمــه دَ ځــان نــه
بــس څـۀ بـل شـان لېونتـوب ؤ
څــــۀ عجبــــه تماشــــه وه
څــۀ عجبـــه مئینتـــوب ؤ
ژونــد څــۀ داســې ښــکارېدلو
چــې لیــدلے مــې یــو خــوب ؤ

دَ ځــوانۍ دَ تــال جــوتې وې
خــو بــې وختــه مــازیگر شــو
زیــړ رنگونــه لاړه تــت شــول
ډوب دَ غــره دپاســه نمــر شــو
شــپه پــۀ ســر راغلــه غمژنــه
خــو ناویاتــه بــل ســحر شــو

دَ ژونــدون ســفر اســان شــو
مــل دَ ژونــد مــې راســره شــو
دَ ارمــان کلــۍ مــې گـُـل شــوه
دَ اُمیــد ســپرلے کَــره شــو
دَ یــو گـُـل بــوټي مالیــار شــوم
خــور زمــا پــۀ ژوندانــۀ شــو

دا یو بوټے مې اُمېد ؤ
دا یو بوټے مې منزل ؤ
دغه بوټي غوټۍ وکړه
بیا سباله پکښې ګُل ؤ

دغه ګُل مې سرمایه ده
دغه ګُل مې اوس دُنیا ده
دغه ګُل مې ټول ژوندون دے
دغه ګُل اوس زما ساه ده

دغه ګُل مُسکے دے
دغه ګُل زما زړګے دے
دغه ګُل وړمې وړمې دے
دغه ګُل زما سپرلے دے
دغه ګُل زما حسنېن دے
دغه ګُل زما بچے دے

****

# زما زړک

لکــه چــې ګُــل غــوړیږي
داســې خنــدا کــوې تــهٔ
زمـــــا زړک بچیـــــــه
ښـــکلې ادا کـــوې تـــهٔ
تـا چې پـهٔ غېږ کښې واخلم
پـهٔ خوشـبویو کښـې ډوب شـم
خُمــار خُمــار شــم داســې
لکــه نشــو کښــې ډوب شــم

خدائ دې بس لوئ کړه راته
ښـه نېک عمله بچـے
چې خوشحالۍ نه غټ شم
زهٔ هم پخپلـه بچـے
ستا نه چې ځار کړمه ځان
پهٔ څو څو ځله بچـے
تهٔ او حسنین خو زما
بس سرمایه دَ ژوندون
دوه میوه دارې ونې
لویه سایه دَ ژوندون
خدائ دې سالمه ساتي
دا اثاثه دَ ژوندون

****

## رحمت شاه سائل صیب

کــۀ دَ لفظونــو جــادوګر دے ســائل
خــو دَ خیــالونو ســمندر دے ســائل

پــۀ هغــه تولــه پښــتونخوا میئنــه
دَ هـر پښــتون دَ زړګـي سـر دے سائل
شــعر ، غــزل دے کــۀ ســندره ، نظــم
پــۀ هــر یــو صــنف برابــر دے ســائل
هسې څوک دومره ډېر حساس خو نۀ وي
پــۀ زړګـي غـوځ پرهرپرهـر دے سائل
پــۀ هــر زخمــي زړګــي ټکــور لګــوي
څــۀ مســیحا څــۀ بختــور دے ســائل
دَ هــر یــو درد ځکــه تصــویر جــوړوي
پوهــه دَ ژونــد پــۀ دې هنــر دے سائل

رفیقــه ســوچ کــووم پــۀ دې خبــره
څــۀ زورور څــۀ ســخنور دے ســائل

****

# حیا او مناحل

پهٔ انګلینډ کښې دَ تنهائی ژوند ؤ ـ لا مې خپل بچې نهٔ وو هغه وخت زما خوږ ملګرے شهاب الدین یوه ورځ مونږه مېلمانهٔ کړو ـ دوه وړې وړې لونړه ئې وې چې دَ ټول کور ښکلا وه ـ دَ هغوئې ښائست ، اداګانې او مینه مې پهٔ زړهٔ
وې نو دا څو شعرونه مې پرې ولیکل

ښکل دې کړي پهٔ یو مخ یوه پهٔ بل بله
یوه درته دُعا وکړي کنځل بله

تا کره راغلې ښاپېرۍ دي دوه
یوه لور دې دَ چین ده ، دَ کابل بله

حُسن ئې سپوا دے دَ یوې بلې نه
یوه لکه غوټۍ ښکاري او ګُل بله

یوه چې خنګ خفه شي سترګې واړوي
سترګې زر راواړوي په چل بله

دواړه بس دَ شعر دوه صنفونه دي
یوه لکه ټپه ښکاري ، غزل بله

یوه ښکاري اسمان کښې دَ سپوږمۍ په شان
ستورے ستورے کیږي درته تل بله

کور ئې کړو رفیقه دَ شهاب رڼا
یوه شمع حیا ده ، مناحل بله

****

# نیمګړے ژوند

یوه نوي پېغلوکۍ دَ خپل ښائست چپو کښې ډوبه ځان له بې خبره زنګېدله دَ مستۍ په تال هېڅ دَ دې دُنیا دَ سُود او زیان نه هم خبر نۀ وه لرې لویه شوې هم دَ دې فریب ، دهوکو نۀ وه زړۀ باندې صفا وه هم صفا دَ ائینې پۀ شان دُومره وه معصومه چې ئې حد دَ معصومتوب نۀ ؤ مور او پلار ئې هم ډېره پۀ ناز باندې ساتلې وه نغښتې ئې دَ سرو سپینو پۀ مئېنځ کښې وه هم دا حوره نوم ئې ورله یخے دَ قرآن دَ ایاتونو ؤ سوچ کوؤم الله پۀ کوم کمال دا جوړه کړې وه حوره دَ جنت ئې دې دُنیا ته رالېږلې وه

دنګـــه ، نـــرۍ وَنـــه ئـــې پـــهٔ شـــان لکـــه دَ ســـروې وه
ســـپینه ،نـــرۍ غـــاړه ئـــې اوږده دَ صـــراحي غونـــدې
غټې غټې سترګې ئې وې مړاوې دَ نرګس پهٔ شان
سـرهٔ سـرهٔ اننګـې ئـې لکـه پـاڼې وې دَ سُـور ګُـلاب
سرې نازکې شُونډې ئې خندا لـه جوړې شوې وې
بیـا هـم خاموشـي بـه وه دَ دې دَ هـر یـو سـوال جـواب
مـــا چـــې کلـــه دا پېغلـــه هـــم دا حـــوره لیـــدلې وه
مـا وئېـل ښـه خوشحاله ده هېڅ غـم ئې پـهٔ زړګي نشـته
مـا تربـنـه یـوه ورځ هسـې پـهٔ ټوقـو کښـې تپـوس وکـړو
څنګـه سـتا پـهٔ زړهٔ کښـې څـهٔ ارمـان هـم چرتـه شـته کنـه
اے زمـــا ملګـــرو څـــوک دَ چـــا دَ زړهٔ نـــه څـــهٔ خبـــر
سترګې ئـې دَ اُوښکو نـه راډکې شوې مُسکۍ شوله
وئـــې وئېـــل چـــې شُـــکر دے الله هـــر څـــهٔ راکـــړي دي
بـس دوه ارمانونـه مـې پـهٔ زړهٔ دي نـور څـهٔ نـهٔ غـواړم
دوه غـــټ مرضـــونه مـــې وجـــود تـــه ننـــوتي دي
دواړه لاعلاجـه دي هـم دواړه بـه مـې ژونـد اخلـي
یو عشَق مې زړهٔ کښې بل مې کېنسر پهٔ سینه کښې دے
یـو ګُـل مـې کمخـو لـه وړي او بـل زمـا پـهٔ قبـر ږدي

****

# پروفیسر ډاکټر اباسین یوسفزے صیب

حاسدان خلق لیدے نۀ شي شهرت ستا
مئینان دي لیوني کړه محبت ستا

پښتانۀ ئې تمامي پۀ تا مئین کړه
غورځنګونو نه مَرام پورې الوت ستا

بې لۀ تا دے دَ پښتو ادب نیمګړے
پُښتنو ته دے بې شکه ضرورت ستا

تۀ پُښتون دَ خپل ضمیر سوداګر نۀ یې
نشته نشته دَ هیڅ چا سره قیمت ستا

دا چې څومره شاعران او ادیبان دي
تا اُستاذ ګڼي لۀ زړۀ کوي عزت ستا

تـــش تـــر فکـــره محـــدود نـــهٔ ئـــې ابا ســـینه
نهٔ پهٔ فن کښې ځائېد ے شي شخصیت ستا

ځـــو مره ډېـــرې دي خـــوبۍ الله درکـــړي
مړېـدۀ نشـــته هـــیڅ کلـــه پـــهٔ صـــفت ســـتا

دَ قـــــدم نـــــه دې رفیقـــــه معلـــــومیږي
چې اُســـتاذ دې کـــړے ښُـــکلے تربیـــت ســـتا

****

هغـه خـو لاړو بیـا ئـې زر پرېښـودم
زه ئـې دَ ورور سـره پـهٔ شـر پرېښـودم

زهٔ ترې خفه شوم چې پخلا به مې کړي
هغــه هــم داســې مــرور پرېښــودم

ماتـه دَ دار پـهٔ ختـو نـهٔ دے افسـوس
خو بیا ئې هلتـه زوَړنـد سر پرېښودم

دا مــې الله دَ بــدو ســترګو ســاتي
ګنــې نــو زهٔ دَ چــا نظــر پرېښــودم

هغـه خـو پرېـږده هېـڅ پـرواه نـهٔ کـوي
زهٔ ئـې پـهٔ زړهٔ بانـدې پرهـر پرېښـودم

نـهٔ بـه دې خپـل زړګـي پرېښـولمه زهٔ
نـهٔ بـه رفیقـه یـار پـهٔ در پرېښـودم

****

هر خوا ته چې ګورم یو سراب وي دَ سپرلي نه پس
حال مې دَ زړګي هسې خراب وي دَ سپرلي نه پس

داسې مې حالت شي ستا دَ مینې دَ موسم پهٔ تلو
خنګ لکه انجام چې دَ ګلاب وي دَ سپرلي نه پس

ډېر ډېر قسمونه او لوظونه پکښې وکړو مونږ
خپلو کښې زمونږه بیا حساب وي دَ سپرلي نه پس

زیړې زیړې پاڼې چې دَ ونو، بوټو وینمه
خوښ مې دَ موسم دا انقلاب وي دَ سپرلي نه پس

هغه خو ژوبن ؤ لېونتوب ؤ هر څهٔ هېر کړه بس
داسې ئې رفیقه بیا جواب وي دَ سپرلي نه پس

****